



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملت ارمان

لیکوال: مسعود رښتین

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار اووه بجې وې چې د ټلیفون پر زنګ راوېښ شوم؛ سترګې مې و موښلې، د ټلیفون سکرین ته مې وکتل شمېره نابلده را ته ښکاره شوه، تر لږ ځنډ وروسته مې اوکې کړه.

ـ السلام علیکم...

ـ و علیکم السلام، له ارګه مې زنګ وهلی، په ټولنیز چارو کې د ولسمشر سلاکار یم.

ـ شمېره به مو غلطه کړې وي، زموږ دې ختیین کور ته به ارګ څنګه زنګ وهي؟

ـ نه، همدا تاسو مې پکار یاست!

ـ مهرباني څه خدمت موکولای شم؟

ـ ولسمشر ستاسو سره نن ماښام پر اووه بجې په شاهي ماڼۍ کې ګوري، مهرباني وکړئ پر خپل وخت ځان را ورسوئ! له دې لنډې مکالمې وروسته یې اړیکه پرې شوه. له ځان سره مې فکر وکړ چې غریب سړی یې، ولسمشر به تا څه کوي؟ وروسته به مې بیرته د خپلې وړتیا، د دوو لېسانس سندونو او یوې ماسټرۍ په اړه فکر وکړ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن نن د خپلې وړتیا پکار شوی یم. دا چې ما د اقتصاد او سیاسي علومو پوهنځۍ لوستې وې او تر څنګ مې په ارواح پوهنه کې ماسټري درلوده؛ پر راغلې اړیکې به باوري سوم چې شاید همدا ته یې پکار ورغلی یې. زه د کابل ښار د کمپنۍ سیمې د خاورینو کورونو په منځ کې په یوه غریبه او لوستې کورنۍ کې پیدا شوی وم، تر ماسټري وروسته مې واده هم وکړ او دا وخت مې یو شپږ کلن زوی هم درلود. په ځای کې حیران ناست وم، سهارنۍ بلنې ته فکر وړی وم او پوره مې حس کوله چې یاد زنګ به دې د ژوند د یوې نوې پاڼې بدلولو مانا وي. د خوب له ځایه ولاړ سوم، له کوټې ووتم، مور ته مې کیسه وکړه. له خوشحالۍ یې پر مخ مچ کړم؛ پر ګریوانه ټومبلې ګڼې کیلۍ یې سره واړولې، یوه یې په قُلپ کې سمه شوه، پلو یې له نخودو ډګ کړ، له خوښۍ یې زګیروی خووت تر دروازه ووته. شېبه لا نه وه وتلې چې په کوڅه کې د ګڼو ماشومانو لپې له نخودو ډګې وې. غرمه مې سپینږیری پلار هم کور ته راغی خبره می ورسره شریکه کړه ډېر هیله مند وو. پلار مې ویل؛ زویه! هلته د ورتګ لپاره باید نیکټایې، دریشي او یخنکاک واغوندې. خو ما ورته وویل: نه همدا ساده پاده کالي مې کفایت کوي، خو پلار مې زړه نازړه وو، ملامت نه وو؛ ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه وخت د وړتیا معیار غوړ کړي وریښتان، دریشي، رسوا رنګ یخنکاک، ښوي بوټونه او یو لاسي بکس و.

راغلی زنګ مې په دې خاطر ښه بلی چې ګوندي نوی واکمن تر نورو د نوي بدلون فکر ولري؛ د هېواد د ښې راتلونکې لپاره شاید نوي پلانونه عملي کړي. نوی واکمن د واک پر ګدۍ هغه مهال کېناست چې تر وړاندې یې هېوادوالو یوازې توره شپه حس کوله او د روڼ سباوون  ارمان یې کاوو. د هېواد هر نیالګی او بوټی د یو ویشتل شوي وجود په وینو سره وه، له هرې دښتې د نامعلوم جسد د وینو بوی تر سپږمو کېدی؛ سیاسونو خو د ملت پر سر د ورځې دوه درې سوداوې کولې، ناامني اوج ته رسېدلې وه، داسې بد حالت راغلی و چې په جومات کې لمونځ کوونکي لا په امن نه و او د ویرې پوره احساس به یې کاوه. قومي شخړې او تعصباتو ټول ړانده کړي وو، زورورو به له کمزورو د خولې ډوډۍ وړله، ځینو به په زرګونو جریبه ځمکه لاندې کړې وه او ځینو به د خپل مړي د ښخولو ځای نه درلود. د دولت او ملت ترمنځ خو سمه دمه دښمني وه، وړتیا او استعداد هېڅ ارزښت نه درلود، نارینه هغه و چې ښه وایسطه یا ښه پیسه به یې لرله .مسلکونو ته پاملرنه نه کیده، په هېواد کې د تعلیم او تحصیل په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهنیت بالکل منفي و. غلا، چور، نشه‌يي توکي او قاچاق قانوني بڼه غوره کړې وه، زورواکي تر قانون لوړه وه، نور به يې څه درته وايم؛ سم دم قيامت و، هېڅ تيرېده يې نه درلود.

سندونه مې يوه زړه دوسيه کې واچول، له دريشي او نيکټايي پرته په ساده کاليو او سپيرو بوټونه کې مازيگر پنځه بجې د ولسمشري ماڼۍ اولې دروازې ته ورسېدم. له پوره وضاحت سره مې بشپړ معلومات ورکړل، د ولاړ عسکر سترگې زما ټول بدن وڅارى، وروسته يې ښکته پورته وکتل او حيران و چې زه څنگه ارگ ته ور غوښتل شوى يم.

مخکې ولاړم، تر نورو دروازو هم تير شوم، څو نورې ټينگي تلاشۍ هم وشوې، څو قدمه وړاندې ولاړم او د ارگ تاريخي دروازه مې له خپل تاريخي قدامت او مغروري سره وليده. په غټو غټو مې د دروازې ښکلا او پر سر له غروره ډک درې رنگه بيرغ تر نظر تير کړ چې زما لپاره د حيرانۍ خبره وه، که ووايم سم دم د خوب ليده و.

په کومه شمېره چې سهار زنگ را ته شوى و، زنگ مې ورته وکړ. تر معرفي وروسته يې وويل:

ـ دالته د دروزاې والا سته، هغوى ته ووايه چې شاهي ماڼۍ ته دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهنمايي کړي.

ما هم همداسې وکړل، دروازې ولا د ګوتو په اشاره شاهي ماڼۍ را وښووله ور روان شوم، هلته تر رسېدو وړاندې مې يو مسوول کس ته خپل ټليفون و سپارى، هغه د غونډو تلار ته بوتلم. شپږ نيمې بجې وې، د غونډو تالار ته ننوتم او په لومړي ځل مې وليدل چې زما غوندې په کاليو کې ډيرى ځوانان ناست وو؛ د هر سړي چوکۍ معلومه وه، له ټولو سره مې په خوله روغبړ وکړ او کېناستم. په مجلس کې ټول لس نفره وو، ټول ځوانان وو، په دوى کې يې يوازې درېيو تنو په ځانو لږ ګوته وهلې وه؛ مانا دريشي، ښوي بوټونه، يخنکاک او نيکټايانې يې لرلې.

فکر مې کاوه چې راغلو ځوانانو خو تر ننه شاهي ماڼۍ په خوب کې هم نه وه ليدلې؛ نو دغسې تصادفي بلنې علت به څه وي؟ موږ نو کوم دومره ځانګړي يوو چې ولسمشر راغوښتي يوو.

ولسمشر به څنګه شخص وي؟ هغه به څه ډول خبرې ولري؟

له ځان سره مې يوازې د خپلې وړتيا اړوند فکر کاوو چې د کومې برخې لپاره به يې راغوښتی يم. همدارنګه د راغلو ملګريو اړوند مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورته نظر درلود. او د څه نا څه نورو فکرونو، سوچونو او پوښتنو ځوابونو ته منتظر ناست وم.

ځوړه شوه په دهلېز کې یوازې د بوټونو اوازونه ختل، غږونه او شور نور هم زیات شو، دوه د لوړ قد لرونکي، په تورو دریشیو کې چې لاسي مخابرې ورسره وې تالار ته راننوتل. ورپسې یو په عمر پوخ ځوان چې په توره ږېره کې یې سپین ویښته له ورایه معلومېدل، بڼورې سترګې، جګه پزه چې مخ ته یې لا ښکلا ورکړې وه او وطني جامې یې په تن وې تالار ته را دننه شو. ولسمشر چې درانه او سنګین ګامونه یې پورته کول او ځلېدونکې وړې تسبیح یې په ګوتو کې اړولې تر موږ راورسېد. ناست رابلونکي یې ټول د درناوي په پار ولاړ شول، ولسمشر له هر یوه سره په ورین تندي ستړې مه شې پیل کړه، هر یو یې په ارامۍ په غېږ کې نیوی، لاسونه یې ټینګ زموږ له لاسونو سره مښلول، د کورنۍ او صحت پوښتنه یې کوله، لږ مې له ځان سره و انګېرله چې تیر وتلي نه یوو، خو لا درک نه و معلوم او د را روان برخلیک په اړه قاطع پرېکړه نه کیده.

تر روغبړ وروسته ولسمشر د مېز په هغه سر کې کېناست چېرته چې ورته د ناستې لپاره چوکۍ اېښودل شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورِ ته تر ښه راغلاست ویلو وروسته یې وویل: ډېر خوشحاله یم چې تاسو زما بلنه و منله او تر همدې ځایه راغلاست! تاسو پوهېږئ چې هېواد څومره دردېدلی دی؟ ټپونه یې ملهم ته پټې غواړي، دا پټۍ زمورِ او ستاسو په لاسونو او فکرونو کې دي، کلونه کېږي چې هېواد د یو سوځېدلي او له منځه تللي ځنګله غوندې ښه خپله کړې چې د ژوند او ښکلا ونې، بوټي، ښونونه یې له منځه تللي او هم یې اوسېدونکي له هوسۍ تر زمري پورې ټول د ښکاریانو له خوا ویشتل شوي او ټپي شوي دي. دغه ټول را ویښېدل او ژوندي کیدل غواړي؛ نو زه ستاسو دریشي او نېکټایي ته اړتیا نه لرم، زه ستاسو انرژي ته اړتیا لرم.

پوهېږم تاسې به هم د پوښتلو لپاره ډېر څه ولرئ؟ اندېښنه مه کوئ، ټولو ته مو ځواب وایم.

وروسته یې ټول ناست ځوانان مخاطب کړل او وې ویل:

- تاسې مې له ډېر زحمت ایستلو وروسته پیدا کړي یاست، غواړم له نورو ځوانانو سره هم خبرې وکړم او له انرژۍ یې په پوره ډول کار واخلم؛ ایا تاسو زما سره کار کولو ته چمتو یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه څه چې څوک يې له خدای په اسمان غواړي او هغه يې ورته پر ځمکه ورکړي، نو څومره به يې تږي وي؛ موږ هم له څه ويلو پرته د "هو" ځواب ورکړ.

ولسمشر زياته کړه: ښه ډېر ښه! خوشحاله سوم چې تاسو کار کولو ته چمتو یاست. دا چې زما د راتگ لا هم زيات وخت نه کېږي، غواړم چې د خپلو هېوادوالو حق ادا کړم. امن، سوکالي او ارامي راولم، د هېواد د شته ټپونو درملنه وکړم، د هېواد اوبه را وتړم، د سياست او هېواد استعمار له منځه يوسم، زده کړې او تحصيل ته لومړيتوب ورکړم، فساد له منځه يوسم، اهل لرونکي کسان پر دندو وگمارم. ... خو ددې ټولو تر سره کول ناممکن نه؛ بلکې ستونزمن دي. لوی خلک تل ستونزمن کارونه کوي، زه ستاسو له منځه همدا اوس گومارنې ترسره کوم.

اول يې د شيرخان نوم واخيست، هغه وويل: حاضر يم صيب!

ـ تاسو په ورځني ډول د هېواد د سياسي حالاتو د جاج اخيستلو او ماته په راپور راکولو مکلف یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم یې اکبر خان غږ وکړ؛ تاسو په ورځني ډول د هېواد د اقتصادي حالاتو اړوند ماته په راپور راکولو مکلف یاست.

ورپسې یې زما نوم یې یاد کړ؛ تاسو زما د دفتر د رییس په حیث دنده لرئ، چې زما اړوند ټولې چارې به ترتیب او تنظیموئ.

زما له نوم وروسته یې احمد خان ته ګوته ونیوله؛ ځوانه! ته به په میاشتني ډول هېواد ته د کډوالو د راستنیدو اړوند راپور راکولو مسوول یاست.

وروسته یې زبیر خان ته سترګې واړولې، زبیره! تاسو په هېواد کې د فساد او فاسدو اشخاصو په تعقیب او نیولو مکلف یاست. هر څومره بشري ځواک ته چې اړتیا لرئ، وړاندېز یې وکړئ.

همدارنګه یې تر لسو پورې ټولو ځوانانو ته پرلپسې مسوولیتونه وسپارل، تر بیا لیدو او ناستو وروسته یې خدای پاماني وکړه او له تالاره ووت.

یو بل د لوړ قد او پراخ تندي ځوان چې غټو سترګو او نرمې موسکا یې ښکلا یو په دوه کړې وه راغی او بل رنګین تالار ته یې له ځان سره بوتلو، پر مېزونو ایښې وطني خوراکونو ټول حیران کړل. تر ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړولو وروسته مو یو بل ښه سره وپېژندل. خدای سته دې پېژندنې یو بل څه ته متوجه کړم، هغه دا و چې ولسمشر د قومونو ترمنځ د یووالي برخې ته هم پوره پام کړی و؛ دغه لس کسه‌یزه ډله یې یو پښتون، بل هزاره، ازبک، تاجک، ترکمن او... زموږ د تګ وخت راورسېدو، که مو کاته د شاهي ماڼۍ تر مخ، هر یوه ملګري ته دوه نظامي ګارډان، یو موټروان او یو تور لکسیز موټر ولاړ و. هېڅ د منلو نه وه، خو بس د خدای کړه و او زموږ ورته کاته و.

د نن شپې لپاره مو رخصت راواخیست او د سبا د پر وخت راتګ پرېکړه مو سره وکړه. په ټکسي کې راغلي ځوان، اوس د کابل ښار ګڼه ګوڼه او شور د لکسیز موټر له تورو شیشو ننداره کوله. عادي حالت اوس نه و، غرور، مینه او ځواک اوس بدل شوی و. فکرونه په مخه کړم، ټول ذهن مې اوس د هېواد او ولسمشر خوا ته اوښتی و. د فکرونو نړۍ مې تر نورو شیانو یو بل څه ته ډېره ګډوډې راوستله، هغه دا چې زموږ په نننۍ ناسته کې څو واره ولسمشر ته زنګ یا پېغام راتلی، خو هغه به د ټلیفون سکرین ته تر کتلو وروسته نرمه موسکا وکړه او ټلیفون به یې کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې لس بجې وې چې کور ته را ورسېدم. کورنۍ مې زما لپاره وېښه وه، اندېښنه یې لرله. ورغلم پلار مې په لاسونو مچ کړ، مور ته مې غاړه ورکړه، د مور پر غومبرو د خوښۍ اوښکو اوږدې لیکې ایستلې وې. کېناستو، کیسه مې ورته وکړه او تر ډېرو وېښ وو. اوس نو ما د خپل کړي تحصیل ثمره په سترګو لیده؛ نوي واکمن لوستو ته د عزت په سترګه کتل او اوس د هېڅ لوستي ځوان زده کړې یوازې کاغذي سند نه و، ارزښت یې لاره، ټولنې او خلکو درناوی ورته درلود. د پخوا حالت بدل شوی و چې خلکو به یوازې د لوستو پر بېکارۍ او روزګارۍ مجلس ګرم کړی و. پلار مې زما د نوې دندې تر لاسه کولو ته هغومره نه و خوښ؛ لکه د دې ملت د دردونو دوا کېدو ته. شپه تیره شوه، سهار وخته راویښ شوم، اودس مې وکړ او په مسله له ادا شوي لمانځه وروسته په فکرونو کې ډوب شوم، د ولسمشر د ښېګڼو او د لوېدلو ولسي خلکو په اړه به مې له ځانه وپوښتل.

ولسمشر په رښتیا د خلکو غم اخیستی؟

رښتیا به فساد ورک کړي او که به د زورواکو تر واک لاندې راشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي حالت به په رښتيا ښه کړي او که به يوازې د ملت پر سرونو معامله وکړي؟

د هېواد اوبه به را وتړي او که به د نورو هېوادونو تر استعمار او سياست لاندې راشي؟

د قومونو ترمنځ به يووالی راولي او که به د قومونو دلالانو ته د پخوا په رکم د دلالي برخه ورکړي؟

زده کړو او تحصيل ته به په رښتيا کار وکړي که به يوازې شعارونه وي؟

همدارنګه ډېرې نورې پوښتنې چې زما په ذهن کې ګرځېدې او ځوابېدو يې يوازې وخت او راتلونکي ته انتظار ايست.

ناوخته شوي و، يو پلاستيک کې مې د اړتيا وړ شيان واخيستل، له مور، پلار او مېرمنې مې خدای پاماني را واخيسته، ور ياده مې کړه چې نور ژر ژر کور ته نه راځم. که مې وخت پيداکړ احوال مو اخلم او هو چې هر څه ته اړتيا وي، فقط زنګ را ته وهئ.

را ووتم، موټر چالان ولاړ و، ور وختم. له تلو سره سم مې مور په موټر پسې له شا اوبه و شيندلې. نن هوا ګرمه وه، اسمان وريځ وه خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران درک لا نه و. د ګلبهار سنټر پر لاره تر ګڼې ګوڼې وروسته ارګ ته را ورسېدو. اوس نو تلاشي نه راسره کیده، پېژند کاټ د ټولو دروازو په مسوولینو پېژندلی وم. په ارګ کې دننه د نوي واکمن له راتلو سره سم د رغونې چارې تر سترګو کېدې. خپل دفتر ته ننوتم، پر اوږد لرګین مېز، ایپل کمپیوټر، د ګرځنده چوکۍ شاته لوړه د افغانستان نقشه او تر څنګ یې له کتابونو ډکه الماری دیوال ته جګه وه. تر کېناستو څو شېبې وروسته شیرخان او اکبرخان هم دفتر ته راغلل، یو او بل ته مو د نوې دندې مبارکۍ ورکړې، د خپلو لوړو زده کړو په اړه مو یو او بل ته وویل، دروازه ټک، ټک و ټکیده.

اجازه مې ورکه، ځوان را ننوت، ځان یې د تشریفاتو مسوول معرفي کړ؛ وروسته یې وویل: رییس صاحب نن ستاسو په ګډون د نورو ځوانانو لپاره معرفت غونډه نیول شوې، هیله لرم چې د ګډون په موخه مو قدمونه را سترې کړئ، اجازه یې وغوښته او ووت.

له څه ځنډ وروسته، زه، اکبرخان او شیرخان موږ هم د غونډو تالار ته ورغلو، په تالار کې ګڼ شمېر لوړ پوړي چارواکي وو، زموږ نویو ځوانانو پېژندنه وشوه، د غونډې د ځینو چارواکو زموږ له پېژندلو سره تندي تریو ونیول، څو نورو خو بیخي ډېرې ګونځې ورکړې. د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندې د پيل لوړه مو ترسره کړه او هېواد ته د کار کولو وعده مو وکړه، د يادو مراسمو له ختمېدو وروسته له تالاره وواتو.

شپې او ورځې ووتې کارونه په منظم ډول روان و، ولسمشر راته لارښوونه وکړه چې د وزيرانو شورا راوغواړه، سبا سهار اووه بجې بايد ټول مجلس ته حاضر سئ.

ما فکر وکړ چې دومره وختي به کله دا وزيران له خوبه راويښ شي، دوی خو د تير ولسمشر پر مهال د شپې باندېارونه او د ولس پر سرونو سوداوې کولې، د ورځې به يې خوب کاوو. د ولسمشر دا ډول غوښ امر را ته له دوو حالتونو خالي نه ښکارېدی؛ يو دا چې ولسمشر همدومره جدي دی، يا د تيرې دورې له حالته ناخبره دی؛ خو خير ما خپل مسووليت ادا کاوو. د وزيرانو ليست شوې شمېرې په دفتر کې پر را ځوړندې تختې لګېدلی و؛ د هر يوه شمېرې ته مې زنګ وواهو او ټولو ته مې د سبا مجلس په اړه خبر ورکړ. په دوی کې دوه وزيران يو د اوبو او برېښنا وزير او دويم د ملي امنيت رييس بهر ته په سفر تللي وو؛ حال دا چې موږ يې بهر ته له تګه هم ناخبره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار اووه بجې وې ځينې وزيران يې پر وخت راغلل او ځينې يې و ځنډيدل. غونډه پر اووه نيمې بجې رسما پيل شوه، ولسمشر د مېز سرته کېناستی، وړه د نوټ کتابچه يې مخته کېښوده، د قران کريم تلاوت وشو، وروسته ولسمشر خپلو خبرو ته ادامه ورکړه.

رسنيو غونډه په ژوندۍ بڼه خپروله، د لومړي ځل لپاره ولسمشر د وزيرانو شورا راغوښتې وه، د ملت سترګې د خپل ولسمشر د ليدو او خبرو تږې وې.

ولسمشر خپلې خبرې په دې ډول سره پيل کړې:

ټولو وزيرانو صاحبانو ته ښه راغلاست وايم! هيله لرم چې يو او بل به مو ښه پېژندلي وي او يو بل درک کړو. زه د هېواد هغه ولسمشر نه يم چې په غلا او يا د نورو د زور پر مټ دې ځای ته رارسېدلی يم. خلکو را باندې باور کړی، زه يې بايد باور وساتم. نه غواړم چې ستاسو ماغزه په اضافه خبرو تر ګډوډ کړم، ځو له تاسو د مطلب ټکی ورک کړم.

هغه وزيران چې غونډې ته ناوخته راغلي، پر خپلو ځايونو ودرېږئ.

ولسمشر په ډېر جديت وويل: ولاړ سئ!! څو دقيقې چې ناوخته راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاست، هغومره وخت په خپلو ځایونو کې ودرېږئ! ستاسې له ناوخته راتلو څخه ما دا زده کړل چې تاسو به وزارت ته هم هره ورځ ناوخته ورځئ. تاسو چې د خپل ولسمشر قدر نه کوئ، د بېوزله هېوادوالو قدر به څه وکړئ، اړ یم چې نن به ولس ته خپل حق در څخه ورکړم.

غونډه په ژوندۍ بڼه خپرېده، ملت هر څه په خپلو سترګو لیدل. فېسبوک مې را خلاص کړ، خلکو د نوي ولسمشر دا کړنه پر نېک پال و نیوله. ډېره خوښي یې څرګندوله، دوی ویل چې هېواد همداسې ولسمشر ته اړتیا لري.

وزیران همداسې پر خپلو ځایونو ولاړ وو، پر تندیو یې نرمه خوله برېښېده، نن یې له ملت سره د کړي ظلم پایله لیده، ملامتي یې ومنله، د تکلیف احساس یې وکړ.

ولسمشر خپلو خبرو ته دوام ورکړ: ملت مو په ژوندۍ بڼه ګوري، زه نن د لومړي او وروستي ځل لپاره خبر درکوم؛ سر له ننه مو خپلو مسوولیتونو ته متوجه سئ! په خپلو چارو کې مثبت بدلون راولئ! وروسته یې د کورنیو چارو وزیر مخاطب کړ؛ زه غواړم د یوې میاشتې په موده کې د نظامیانو چلند له ولس سره مثبت و ارزوم! د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم په ښير چلند يې غواړم، نه د بادار. له ولس سره د دوی ښه چلند، هغوی له حکومت سره همکاري ته هڅوي چې دا د ښه امنيت لامل هم کېږي. مخکې تر دې چې تاسو څه کړې، يا مو دا ولس ځومره په تکليف کړی، زه يې درته ښنم، خو غواړم تاسو يې بايد جبران کړئ او زما د خلکو ټپونه پټی کړئ، که بدلون را نه ولئ، ولس به درسره د هر څه حساب وکړي.

قومندانانو ته دې ووايه چې د خپلو عسکرو معاشات دې پر وخت اجرا کړي او هر چاته دې خپل حق ورسوي؛ نه غواړم چې عسکر دې له غربته د غلو ملگری شي. زه به د ټولو عسکرو معاشات لوړ کړم. په مقابل کې به يې د لوړ رتبه مامورينو، هغه چې ستاسو د وزارت تر چتر لاندې کار کوي؛ معاشات او امتيازات محدود او را کم کړم. نه شم کولای د ټولو عسکرو اکاونټونه وڅارم، خو ستاسو اکاونټونه بالکل څارلی شم.

پر خپلو نظاميانو يونيفورم جبري کړئ، زه نن اعلان کوم، کوم کس چې نظامي يونيفورم و نه لري؛ يو عادي کس دی، حتی که يو جنرال هم وي. مسلکي کسان دندو ته راوله، روزنتونونه مو قوي کړه، ټولو ته مسلکي روزنه ورکړئ؛ هڅه وکړئ چې د فساد او مفسد مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسئ. زه به دا ارزونه هم وکړم چې زما ملت څومره د ارام ساه اخلي. اصول باید پر ټولو عملي کړئ، د مجرمینو مخه و نیسئ، زورواکي له منځه یوسئ، هر څوک چې قانون ماتوي، لاس او پښې یې ور ماتې کړئ.

د کورنیو چارو وزیر په ډیر ادب وویل: سر اعلا قومندان صاحب ستاسو لارښوونې به جدي تعقیب کړم او انشاالله هر امر مو پر ځای کوم.

ولسمشر ولاړو وزیرانو ته د کېناستلو امر وکړ، هغوی هم پر خپلو ځایونو کېناستل.

دغه وخت د ولسمشر شخصي ټلیفون ته زنګ راغی، ټلیفون یې ماته و نیوی او راته ویې ویل چې ورته ووایه، ولسمشر په غونډه کې دی.

ټلیفون مې اوکې کړ، د ښځې په غږ یې وویل: سلام د ملت سـر عـلا قـــــــومندانه!!

حیران شوم؛ ښځه، ولسمشر او دا ډول باجرئته خبرې!

ځواب مې ورکړ: وبښئ! زه د ولسمشر د دفتر رییس یم، هغه اوس مصروفه دی، زنګ به وروسته درته ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټليفون يې کاټ کړ او زه هم بيرته دستي مجلس ته ورغلم.

ولسمشر د دويم ځل لپاره د پوهنې وزير ته مخ ور واړوی او د نوم په اخيستلو سره يې مخاطب کړ: زه په تيرو وختونو کې د پوهنې وزارت له هر ډول کړنو خبرېدم؛ حالاتو ته په کتو سره د يوې مياشتې لپاره وخت درکوم چې د افغانستان د ښوونيز سيستم کچه را پورته کړې! فساد او مفسدين له منځه يوسې! زه د مخکنيو کړنو سخت مخالف يم، د خيالي ښوونکو، په معاشاتو کې د غلا، د غيري مسلکي کسانو له گومارنې، له کمزوري نصابه، د قرطاسيو  او پرينچر له غلاوو څخه ډېر بد وړم. که يو کس زما جېب ووهي و به يې ښنم، خو د پوهنې وزارت په برخه کې غلو ته، په دې هېواد کې ځای نشته.

د وزارت بوديجه به درته زياته کړم، د ښوونکو معاشات دوه برابره کړه، څو د ښوونکو اړتياوې پوره کړي. ټولو ښوونکو ته په اړونده سيمو کې د کور لپاره حکومتي ځمکې وويشه. په هر ولايت کې يوه معياري لېسه او ليله جوړه کړه چې تر پنځه زره د زده کوونکو ظرفيت ولري. ترڅنگ يې د ديني علومو يوه يوه مدرسه بايد جوړه شي؛ څو زموږ هېوادوال له اسلامي زده کړو او اسلامي عقيدې څخه پوره برخمن و اوسي. همدارنگه په هره ولسوالۍ کې هم يوه يوه ليليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکې لېسه چې تر درې زرو پورې د زده کوونکو ظرفيت ولري جوړه کړه. په عموماً کې د هېواد په هر کلي او لرې پرتو سيمو کې ښوونځي او مدرسې جوړې کړئ. نه غواړم افغانان د خپل دين او اسلامي ارزښتونو د زده‌کړې لپاره بهرنيو هېوادونو ته سفر وکړي. ښځينه ښوونځي په هره سيمه کې غواړم! په ښځينه ښوونځيو کې ټولې ښځينه ښوونکې مقررې کړه، لوړ معاشات ورته ورکړه، څو د کورنۍ ټولې چارې سمې پرې سمبال کړي. ټول مسلکي اشخاص راوبوله او د کار زمينه ورته برابره کړه. غلا او فساد له منځه يوسه، د خيالي ښوونکو مسله ختمه کړه، د معياري نصاب جوړېدو لپاره يوه کمېټه و ټاکه چې په دې برخه کې مسلکي پوهه ولري، څو د نصاب په اړه له سره غور وکړي.

د کوچيانو لپاره ګرځنده ښوونځي جوړ کړه، هغوی هم ددې ملت برخه ده، مه پرېږده چې د ملت يوه برخه دې هم له پوهې لرې و اوسي. د دوی له منځ څخه ښوونکي ورته و روزه، ټولو ښوونکو ته معاشات پر وخت حواله کوئ، په دې برخه کې يوه ورځ ځنډ هم د زغم وړ نه بولم، د يوې مياشتې په موده کې بايد دا هره ستونزه حل شوې وي، که لا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعیت پخوانی و؛ نه مو ښښم او نه اړتیا لرم چې په دې اړه بهانې واورم.

ولسمشر خپلې خبرې بس کړې او وزیر صاحب د امر منلو په دود څو خبرې وکړې او ژمنه یې وکړه چې خپل وس به نه سپموي، هر ډول اصلاحات به رامنځته کړي.

ولسمشر د نوټ په کتابچه کې ولیکل:

جاهل ملت نه د ځان په ګټه دی او نه د هېواد. ملت باید لوستی وي، جاهلان تر خپل ملت، دښمن ته ښه کار کولای شي. ملت دې لږ وي خو باتمدنه دې وي، لوستی دې وي. جاهله ټولنه د یو ځنګله په څیر ده چې نه مشر لري او نه د مشر امر څوک مني، انسانان د یو بل غوښې خوري.

ما یو ځل بیا ټولنیزو رسنیو ته سر ور ښکاره کړ او ټولو هېوادوالو لاندې نظرونه لیکلي وو. د هېواد نوې پاڼه دې پخیر وي. موږ د ولسمشر دا ډول فعالیتونه تل ستایو. ولسمشره موږ دې تر څنګ ولاړ یو، ته زموږ اتل یې. دا د ځپل شوي هېواد د بدلون پیل دی. ولسمشره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غله او داړه ماران له منځه يوسه! اصلاحات رامنځته کړه، هېواد پر خپلو پښو ودروه!

ولسمشر پوښتنه وکړه:

ـ د ملي امنيت رييس چېرته دی؟

دا چې زه يې د ځواب ورکولو مسوول وم، و مې ويل:

ـ هغه زموږ له اجازې پرته، له هېواده بهر تللی او حال نه ورباندې لرو چې کوم هېواد ته او د څه د لپاره تللی دی؟

بيا يې د اوبو او برېښنا وزير پوښتنه وکړه:

ما بيا ځواب ورکړ: هغه هم بهر ته په سفر تللی دی.

ولسمشر لاسونه سره ومروړل، تندي يې گونځې پيدا کړې، مېز يې په سوک وواهه، دوی ته چا اجازه ورکړه؟ د دوی د سفر موخه څه ده؟

زما ملت هره ورځ په جنگ، جگړو کې مري دوی بهر ته په سفر ځي؟

زما ملت له تندې مري، اوبه مې نه دي کنټرول، بندونه خلاص ولاړ دي او وزير په بهرني سفر تللی. زه غواړم چې خپلې اوبه را مهار کړم، د نړيوال اصل مطابق تر موږ زياتې اوبه د يوې معلومې اندازې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې د پیسو په بدل کې باید نورو ته ورکړو؛ دا باید مدیریت ښه شي، په هېواد کې به د اوبو د بندونو له را تړلو وروسته د اوبو سطحه را لوړه شي، ځو برېښنا ځنې تر لاسه کړو، صنعت او زراعت ته به پرمختګ ورکړو، خپلې زراعتي ځمکې به خړوبه کړو.

وروسته یې وویل:

د ملي امنیت رییس دا ملت پر کوم حال پرې ایښی دی، ټول ملت په وینو سور دی، هېڅوک په خپل ژوند ډاډمن نه دي، سوداګر د ناامنۍ له کبله پانګونې ته زړه نه ښه کوي، بهرني سوداګر هېواد ته د راتګ لپاره ځانونه او شتمني ډاډمنه نه بولي، موږ باید د خلکو امنیت خوندي کړو، د هرې بدې پېښې مخنیوی وکړو.

ولسمشر د رسنیو د استازو لوري ته مخ ور واړوه، د تلویزن پر سکرین یوازې ولسمشر ښکارېدی، د تندي ګونځو یې سل خبرې درلودې.

ولسمشر وویل:

زه ښه غواړم ملته چې تاسو په انتظار یاست! زه له همدې مېزه دوی دواړه له خپلو دندو لیرې کوم. د دوی شتمني باید بلاک شي، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ وروسته دوی په حکومتي چوکاټ کې هېڅ ځای نه لري، همدا مې وروستۍ پرېکړه ده؛ خلاص.

د لاسونو ګوتې یې سره تیرې کړې، وړه ټکاه یې وخته، ساه یې و ایسته، سترې ښکارېده، ما د اوبو پیاله مخې ته ورته کېښوده، یو غړپ یې ترې وکړ، سترګې یې و رپولې، بانوګان یې تور برېښیدل.

د کانونو او پیټرولیم وزیر ته یې مخ ور واړوی، په خبرو یې پیل وکړ:

تاسو ته بهتره مالومه ده چې تر نن ورځې د هېواد سره او سپین، تاریخي ابدات، تر ډېرو لاندې سکاره، معدنونه او هر څه چې و؛ هر چا د خپل زور پر مټ را ایستل، خرڅول او نورو ته یې ورکول. مګر زه نن په مطلق ډول دا بندوم او د تیرو حساب هم کوم. په هېڅ رکم نه غواړم چې د هېواد یوه سپیره لوټه د ځمکې له سر او یوه سپیره تېږه د ځمکې له تل څخه چاته ورکړم. په هغه ډول چې مخکې ترې په بېباکۍ استفاده کیده، یا نورو ترې وړل.

همدا د راتلونکو نسلونو حق دی، یوازې د اوسنیو مال نه دی چې هر ډول یې و غواړي پر نورو یې خرڅ کړي. هغه که په غلا و او یا په بل ډول. له نن څخه وروسته که له هر بهرني شرکت سره تړون کوئ؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې به د هغوی له انجینرانو او ماشینونو استفاده کوئ. په مقابل کې به یې معاش ورکوئ، کاریګر باید ټول د افغانستان خلک و ګومارل شي، خپل خام توکي د یوه نخود په اندازه هم چاته نه ورکوم. تاسو هڅه وکړئ چې له بهرنیانو څخه په استفادې خپل انجینران په دې برخه کې و روزئ؛ څو موږ نورو ته له لاس نیولو خلاص شو. هېواد ته که هر ډول د سون توکي را واردوئ، کیفیت او نرخونه یې باید سل سلنه د ډاډ او استفادې وړ وي، تاسو باید له بهر څخه د خپلو خلکو لپاره ګټه راوړئ.

تر دې خبرو وروسته یې د نوټ په کتابچه کې ولیکل:

زه د خپل ملت لپاره زرکلن فکر لرم او هغه عملي کوم. هڅه کوم چې ټولې ستونزې په ښه ډول و څېړم، کنټرول یې کړم او له منځه یې یوسم. هغوی چې لنډ فکرونه لري لنډ مهاله مسایل تعقیبوي.

کتابچه یې بنده کړه، تالار کې چوپتیا خوره وه، په مخامخ هېنداره کې د باندې د ونو په خاښونو پسې پاڼې مړې ځړېدې.

وروسته ولسمشر د بهرنیو چارو وزیر ته مخ ور واړوی او خبرې یې بیا پیل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو د نړۍ په (۱۹٦) هېوادونو کې د افغانستان استازيتوب کوئ، د افغانستان په کچه دويم درجه ډيپلوماټ ياست، ستاسو هر عمل، کړه وړه او خبره د دې ملت استازيتوب کوي. ستا په وزارت يا په بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان په سفارتونو کې که د لوړې کچې يا د ښکته کچې کسان وي، بايد د همدې برخې مسلکي کسان دندو ته راولې، زه د پخوا په شان نه غواړم چې د نرسينګ يا انجينري د برخې مسلکيان دې په سفارت يا بهرنيو چارو وزرات کې پر دندو ووينم. سر له سبا ټول له مسلکي لري اشخاص له دندو لري کړه، او پر ځای يې مسلکي خلک را وبوله. د دوی کالي، بوټ، چلند، کړنې او هر څه زموږ د ټول ملت استازيتوب کوي؛ نه غواړم چې د يو نااهله له لاسه د ټول ملت سپکاوی وشي. دا ملت تاريخ لري، غرور لري دا ساتنه غواړي.

تاسو ټولو ته يو ځل بيا وايم: هره خبره ښه سمه تعقيب کړئ او ټولو د ښه کار په هيله يم، که څوک لږ بې پروايي هم وکړي، زندان ته اچول کېږئ! د نن ورځې مجلس همدومره وو.      مجلس پای ته ورسېدی، خو زما فکر لا په هغه نازک غږ کې و چې د ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټليفون ته يې زنګ وهلی و. طاقت مې نه کيده ايا ولسمشر ميين دی؟ مينه کوي او که... .؟

ټولو همدلته ډوډۍ وخوړه، وزيران خپلو دندو ته ولاړل زه او ولسمشر سره پاته شوو.

ولسمشر يوه سپينه پاڼه ور واخيسته د دوو تنو نومونه يې پرې وليکل؛ د يوه تر نوم لاندې يې د اوبو او انرژي د وزير نوم وليکی او د دويم له نوم سره يې د ملي امنيت د لوی رييس نوم وليکی، همدا پاڼه يې ماته راکړه تر څو د رسنيو دفتر ته يې ولېږم.

زه د ولسمشر له دا ډول ټاکنو سل سلنه ډاډمن وم، ځکه چې هغه مخکې ارګ ته تر راتګ د کار د خلکو يو ليست له ځان سره درولود، لس دقيقې وروسته له ملي تلويزون څخه د يادو دوو تنو د ټاکنو په اړه خبر خپور شو، دا چې هغه دوه تنه د اولس په زړونو کې له ښه محبوبيت څخه برخمن وو؛ دا هم د ملت د خوښۍ لپاره يو غوړ خبر و، دا ډول ټاکنې ملت د ځان په خير ګڼلې.

ما او ولسمشر د ارګ په انګړ کې قدم وهلو ته ووتلو، لږ وروسته د قطار ونو تر سيوري لاندې کېناستو، د ولسمشر تر مخ ګرد ښيښې مېز

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د مېز پر سر د چایو ډکه پیاله پروته وه. ولسمشر څه نه ویل، فقط د لاسونو گوتې یې د یو او بل لاس په گوتو کې ټینگولې او وړه ټکاه یې ختمه. دغه وخت شیرخان هم راغی او د کېناستو لپاره یې د راپور ورکولو اجازه وغوښته، ولسمشر له څه ویلو پرته، د "هو" په بڼه سر وخوځاوه.

شیرخان د خپل ورځني راپور لوست پیل کړ:

نن ورځ په ټول هېواد کې د وزیرانو شورا تر مجلس وروسته خلکو ستاسو پر یادو ټاکنو خوښي وښووله. دوی هیله لري چې ولسمشر دې تر اخیره هم زورواکو ته نه تسلیمېږي. فساد او مفسیدین دې له منځه یوسي، اوبه دې را وگرځوي، قانون دې پر ټولو یو ډول عملي کړي، خلکو ته دې د کار زمینه برابره کړي، د قومونو ترمنځ دې یووالی راولي. همدارنگه د نن لپاره په سیاسي لحاظ په ټول هېواد کې یوازې ستاسو اړوند مثبت نظرونه تبادله کیدل او پورته غوښتنې مطرح کېدې، ټول ملت خوشحاله ښکاري. د نن ورځې راپور همدومره و. ولسمشر خوشحاله شو، شیرخان ته یې افرین ووایو او رخصت یې کړ. شیرخان مننه وکړه او ولاړی. د لمر ژړېبخونې وړانگې د ارگ له لوړو دیوالونو  ورو ورو په ښکتېدو وې، ولسمشر مخامخ راوکتل او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل: نن زه او ته یوازې دباندې په چکر وځو، دلته مې زړه ډېر تنګ شوی، زه باید کله ناکله د عادي خلکو په څیر وګرځېږم، خلک ووینم، ښار وګورم او د ولس حالت په خپلو سترګو وګورم او له روغ حالته خوند واخلم. زما له دباندې وتلو باید له تا پرته هېڅوک هم خبر نه سي. رښتیا مانښام ته دواړه نوي وزیران راوغواړه چې پر اړینو مسایلو ورسره بحث لرم. ما هم له څه ویلو پرته نویو ټاکل شویو مسوولینو ته زنګړنه ووهل او د راتګ بلنه مې ورکړه.

ولسمشر د چایو پیاله کېښوده او نظر یې ټول زما خوا ته کړ، وروسته یې بیا په خبرو پیل وکړ: ګوره ته زما د ټولو شخصي، سیاسي او حکومتي مسایلو شریک یې، زه پر تا باور لرم او غواړم دا موضوع چې تر اوسه ما له ټولو پټه ساتلې یوازې تاته یې ووایم.

ذهن ته مې هغه د ښځینه غړ مسله راغله چې په سهارني مجلس کې یې زنګ کړی و...

زه یوه مېرمن او دوه اولادونه لرم، همدا واده مې راته پلار په ماشومتوب کې په خپله خوښه کړی، زه ترې خبر هم نه وم، خو وروسته زما کارونه زیات شو، هېڅ وخت هم د ښه ژوند په خوند پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شوم. ټوله ورځ به مې کار کاوه، د ملت په غم کې ورک وم، هغه غم په ما خولې لګولې. کلونه وړاندې زه پر یوې نجلۍ میین شوم، مور په خپل منځ کې ښه صمیمي اړیکې لرو، یو بل ته درناوی او باور زمور د ملګرتیا ستنې دي. زه پوهېږم چې ته به پوښتنه کوې چې زه او مینه؟ خو درته وایم چې مینه که په خپل ځان کې هر څومره غمونه لري؛ ولې د دوو میینانو بهرني غمونه په یوه ګړۍ له منځه وړي. انسان اړ دی چې داسې یو څوک ولري چې ناز ورباندې وکړي، راز ورسره شریک کړي، سر یې پر ځنګون کېږدي او کیسې ورسره وکړي. زه هم یو له هغو انسانانو یم چې زه بل واده کولو ته هم نه یم اماده، ځکه زما ډېر عمر تیر دی، همدا مینه به ما ځوان ساتي خو واده انسان ډېر ژر د زړښت تر پوړیو رسوي، زه باید د خپل ملت د دردونو د دوا کېدو په خاطر په مینه ځان ځوان وساتم، څو د ملت دردونو ته درمل پیدا کړم. څومره چې زما هېواد ځوانېږي زه هم ورسره ځوانېږم. مخکې ارګ ته تر راتګ به ورسره کله کله په چکر وتلم خو دلته تر راتګ وروسته مو هېڅ نه دي سره لیدلي. مصروفیتونه زیات سوي، ستونزې ورځ تر بلې زېږي، حل کېدو ته یې باید وخت ورکړو، ټولې چارې شاید ژر و نه شي. باور وکړه ستا سره ځان ډاډمن احساسوم، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره داده چې نن به ته زموږ استادي وکړې او چکر به راسره ووهې. د ماښام لمنځونه مو وکړل، څه وخت نور هم تېر شو، تیارو خپله لمن و غوړوله، طبیعت له رڼا مخ واړوی او تیارې د ټولو ننداړو مخه ونیوله.

فکر مې وکړ چې لا هم په هېواد کې د عدالت، حاکمیت او امنیت څرک نه لیدل کېږي؛ لازمه یې نه ګڼم چې ولسمشر دومره ژر په یو عشقي سفر وباسم. دا به لوی مسوولیت وي چې هېواد مو وروسته تر دومره کلونو؛ کورنۍ جګړو، وژنو، ناامنیو او کودتاوو، یو د ملت په نبض پوه بابا پیداکړی، دا به له ټول ملت سره لوی خیانت وي چې کوم یې.

ټول زړه مې سره را یو کړ، ولسمشر ته مې وویل:

رییس صیب محترم، په اوس وخت کې دا راته مناسبه نه ښکاري چې موږ په یو ګډوډ حالت کې دباندې ووځو، یا د سړک پر سر یو څوک موټر ته را پورته کړو، ولې یوازې وتلای شو؟ چې زه او ته د یو بل ځارونکي موټر سره ووځو؛ د ښاریانو ژوند، غربت، امنیت، د تېر شویو حکومتونه خدمت، د خپل ملت لپاره او له خلکو سره د نظامیانو رویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورو ماخوستن به بیرته راشو. یو څه وخت وروسته چې حالات عادي شي، بیا به په دې هېواد کې وګرځېږو، منظرې به وکړو او له ژونده به لا خوند واخلو.

کور يې ودان زما خبره يې پر ځمکه و نه غورځوله او بايد همداسې يې کړې وای، وې منله او يو بل موټر چې د ولسمشر ځانګړي ساتوونکي وو، راپسې شول. د ارګ له فرعي دروازې راووتو.

ما موټر چلوی ولسمشر شاته ناست و، د ساتونکو موټر له موږ څخه يو څه فاصله درلوده، چې دا مو د پلان يوه برخه وه. د ملک اصغر ځلور لارې ته را ورسېدو، ميده ميده باران هم شروع شو، د کابل باران دی اوړی او ژمی نه لري، بس چې د اسمان زړه را ډک شي پر دې ملت يې اوښکې را و بهېږيږي. ځينو چترۍ پر سر نيولې وې او ځيني يې دغسې لامده پر لار روان وو، د استقلال لېسې تر مخ را تير شو، ولسمشر تر تورو هېندارو د خلکو د ژوند ننداره کوله.

ځينو خويندو چې لا يې هم په ماښامي کې د سړک پر سر د خرڅلاو توکي ايښي و، لاس تر زنې ورته ناستې وې. د موټر د څراغونو تيزې رڼا به يې وجود ټول طبيعت ته ورښکاره کړ، خو هغې به د اوربده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپس لمن پر ځنګنو ور کشوله؛ څو له وړو سترګو ځان وساتي. د یو او نیم موټر تیز تګ به د سړک د سر اوبه د دې بېوزلو مخونو ته ور وشیندلې. ولسمشر د درېدو وویل، ما هم موټر یوه بغل ته ودراوه.

ولسمشر له موټره ښکته شو، زه هم ورغلم ولسمشر د یوې خور څنګ ته پر دوو پښو کېناستی ورته وې ویل: لورې څه خدمت دې وکړم؟ زه د هېواد ولسمشر یم، هر ارمان چې لرې، راته ووایه!

وړې نجلۍ له زنګنو سر راپورته کړ، اوبه یې تر پلو را وڅڅېدې، سترګو یې د حیاله زیری ورکاوه، په خواره خوله یې وویل: ته رښتیا ولسمشر یې؟

- هو، ولې شک وینې؟

- که ته ولسمشر یې، نو زموږ ولې داسې حال دی؟ ته خو سم بوټونه، کالي او ښایسته موټر لرې؛ ملت دې پر کوم حال دی؟ ته خو به نن یوازې زما غوښتنه را پوره کړې، دا چې د ټول کابل او هېواد سړکونه یې پر سر اخیستي، د هغو خویندو غوښتنې به څوک ور پر ځای کړي؟ د یوه نفر په سر ټول ملت له ستونزو نه خلاصېږي؛ ته که یوازې له ما سره هر ډول مرسته کوې، نو داسې مرسته زه نه غواړم. ته د ټول هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو خویندو مرسته وکړه چې اوس مهال د سړکونو پر سر سودا خرڅوي، د هغو ښځو غم وخوره چې د نانوایي تر مخ د یوې ډوډۍ لپاره شپه رونوي، د هغو میندو غم وخوره چې د وړي زوی له چیغو شپه په وېښه تیروي، د هغو میندو د زړونو قرار ته په هېواد کې د کار زمینه برابره کړه چې د زوی په مسافرت پسې زړه خوري، د هغه عزت غم یې وخوره چې له جهالت څخه مو خویندې په نارینه ډاکترانو ځانونه ګوري، ددې ټولو غم وخوره! د زده کړو او کار کولو زمینه راته پیداکړه، خبرې یې بس کړې.

له ولسمشره یې مخ واړاوه، پر سرو غومبرو یې اوښکې ورغړېدې، تابه ویل چې پر حال یې پرښتې هم ژاړي.

ولسمشر چې دا حالت ولیدی، ډېر یې زړه راډک شو، یو څو پیسې یې بیا هم د نجلۍ تر توکیو لاندې کړې او را ولاړ سو. موټر ته په ډېرې تیزۍ وختی، زه هم سم دستي موټر ته ورغلم. ولسمشر هم لکه تر سترګو چې یې اوښکې راغلې وي، د نجلۍ لوري ته یې کتل ما موټر ته حرکت ورکړ.

ولسمشر له ځان سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې تعليمه ټولنه له حيواناتو تر ډک ځنګله لس ځله خطرناکه ده، ځکه په ځنګله کې به ووژل سي او يا به بل ووژنې، خو دلته به نه وژل وي او نه روغ ژوند، تر وژلو مخکې د عزت جنازه اخيستل کېږي، حيثيت يې له منځه ځي وروسته انسان يو تش کالبوت ته ورته وي د وخت په تيرېدو بې له دښمنه په ډېره سختۍ سره په خپله وژل کېږي، دا تر ټولو بد تدريجي مرګ دی، چې زما ټول ملت ورسره مخ دی.

اوږده ساه يې واخېسته يوازې د موټر د برپاک رغونه اورېدل کيدل چې د باران اوبه به يې د موټر د مخ له هېنداري يوې او بلې خواته تيله کولې، هېنداره به يې هم داسې پاکوله لکه د توبه کوونکي انسان عمل نامه چې الله(ج) ورته پاکه کړي.

د پښتونستان څلورلارې ته را ورسېدو، دلته د سړک پر سر باران ته د ډېرو سر چوک کاريګرو حالت د ليدلو نه و، د باران له اوبو د سړک يو او بل بغل ته پټ و، همدلته يې د شپې تيرولو لپاره يوازې يو پناه ځای جوړ کړی وو؛ خو بيا هم د کار په هيله و چې ګوندي يو څوک به يې کار کولو ته ورسره بوځي. په هېواد کې د کار کولو زمينه له صفر سره ضرب وه، ځينې هېوادوال به ايران ته په قاچاکي لارو مړه شول، ځينې ورک او ځينې به اوبو يووړل. ترکيه او اروپا خو ايسته پرېږده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان له مهاجرته خو د انسان زړه چوي، خو په هېوادوالو د دغو ټولو ناانساني کړنو او زحمتونو په ځان راوستو لامل بیکاري وه.

ولسمشر هر څه په خپلو سترګو ولیدل، هغه يې نور له نږدې د حالاتو د پوښتنې توان نه درلود. خو زه ډاډه وم چې پر حل به يې حتماً فکر کوي، همداسې د لویې ښارنوالۍ پر سړک ور سم شوو، د ښارنوالۍ شاوخوا ډېرین دیوالونه و چې لویې عمومي لارې يې پرې بندې کړې وې، د ښارنوالۍ شاوخوا ښه ډېر هوټلونه جوړ شوي وو، کاروبار يې چالانده و، ځکه په ښارنوالي کې يې د کارونو ژر خلاصېدل د خوب لیده و. د ډېرینو دیوالو او لار بندیز په لیدو ولسمشر له ځان سره وویل:

تر څو چې د خپلو خلکو ترمنځ عدالت حاکم نه کړې، نو د همدې خلکو له ویرې به خود په ډېرینو دیوالونو کې ځان ساتو.

لار مو بدله کړه تر څو له دې غمګینو حالاتو لږ په ارام شو؛ خو موږ خبر نه و چې لار که هر څو بدله کړو د ملت حالات نه ور سره بدلېږي. نابرابري، ظلم، وهشت، غلا او بربریت په انسان سم غاښونه لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لار مو بدله کړه د کوټه سنګي په لور مو د موټر ټیرونه تاو سوو، د ښار یوه برخه ځلیده او بله برخه یې توره تاریکه وه، د برېښنا نابرابري مو نه وه لیدلې خدای دا هم راباندې ولیده. ورو ورو روان وو، چې مخ ته مو د تلاشي یو مرکز را ورسېدی، تر موږ مخکې دوه نور موټران ورته ودرېدل ورپسې موږ وو، خو لوړ هارنونه، شنه او زرغونه ګروپان مو هم و نه لګول، نه مو موټر پر "یو طرفه" ورسره تیر کړ، غوغا مو هم جوړه نه کړه، چې ها وروره موږ چارواکي یوو لار خلاصه کړه، تلاشي نه درکوو. هېنداري مو تورې دي، ته دلته چا درولی یې، ستا د هغه مشر لا څه او څه، دا هېڅ مو و نه ویل د عادي خلکو په څیر چلند مو وکړ؛ همداسې مو باید کړي وای.

ولسمشر سیګار ولګوی، ویې ویل: دغه سیګار یوازې د خپلې مینې تر څنګ او یا د غم په وخت کې لګوم، څو خپل فکر پرې ارام کړم، دود یې له سګریټ نه کش کړ، نور یې د خپلې مینې په اړه هېڅ ونه ویل خو پوهېدم چې ډېره یې یادېږي.

لومړی موټر تر تلاشي تیر شو چې لږ ور نږدې شوو، یو ببر سری ځوان په شخصي کالو کې چې مخابره یې په لاس او سګریټ یې په خوله و، موټرونو تلاشي کول. په لیدو یې ما هم ویره احساس کړه، لږ نور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځير شوم، ټوپک يې لرې له غرفې سره ايښی و، ته او خدای پوليس نو اوس د کومو اصولو له مخې داسې کوي.

تر موږ چې يو موټر مخکې وو، د موټر په هېنداره يې سر ور دننه کړ، ښه وخت يې و ايستی، شاته لس ګونو قطار موټرونو ودرېدل، د امبولانس اوازونه له لرې راتلل. له موټره يې يو تن په ننبه کړی و، هغه يې را ښکته کړ، تر تلاشي وروسته يې د هغه له جېب څخه ترلاسه شوي چرس ورسره نيم کړل. يو بل تن ته يې ګوته و نيوه داسې د کليوال خيال يې ورباندې راغی، څو پيسې يې ځنې واخيستې. موږ وروسته پوه شو چې دا پيسې يې د جېب خرڅ په بهانه ترې يووړې.

دا حالت ولسمشر په خپله وليد او له ځان سره يې وويل:

په کوم هېواد کې چې د ښوونکو او ساتوونکو مزدوري تر ټولو کمه وي، په هغه هېواد کې به ضرور جهالت، غلا او فساد قانوني بڼه خپلوي.

موټر ته يې رخصت ورکړ چې کله موږ را ورسېدو بې له دې چې و مو پيژنې يا پوښتنه را څخه وکړي، نه يې لاس راکړ او نه يې د درېدو وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر یو ځل بیا وویل:

چېرته چې زور تر قانون لوړ وي، تورې هېنداري د زورواکي ننبه وي، په هغه هېواد کې قانون یوازې د غریبانو لپاره دی.

موږ هم ترې راتیر شو، خو ولسمشر همدا ځای په ننبه کړ، څو ورسره د اصولو له مخې حساب وکړي. کوټه سنګي ته په را رسېدو سره مو یوازې د غلو ډلې او د نشه‌یانو کېمپونه ولیدل، ماښام ناوخته و، هر چا په بیړه له دې ځایه ځان ایستی، ځکه د شپې له خوا دا ځای د حکومت پر ځای نشه‌یانو او غلو ساتی. د دوی به نو څه ساتنه وي تاسو پوهېږئ، موږ هم ډېر زر ماړه شو، ولسمشر امر وکړ چې نور باید د ارګ په لوري ولاړ شو، ما هم نور د لارو او کوڅو له بد حالته مخ وګرځوی؛ یوازې مې خپلې لارې ته فکر وکړ، ماخوستن ناوخته راورسېدو، لمنځونه مو وکړل. نور هر یو پر خپله مخه ولاړی، زه او ولسمشر او څو تنه نور پاته شوو، ډودۍ مو راوغوښته، تر ډوډوۍ خوړولو وروسته هغه دوه تنه نوي مسوولین هم راورسېدل او تر څنګ مو کېناستل. ولسمشر په فکرونو کې ډوب و. مخکې تر دې چې له نویو مسوولینو سره خبرې وکړي د کابل د امنیه قومندان یې راته وویل، زنګ مې ورته ووهی، ولسمشر ته مې موبایل ورکړ. د

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ځای د پولیسو ادرس یې ورکړ او د ټولو د منفکي یې ورته وویل؛ څو د نورو لپاره درس شي.

د ارګ له پاڼې یې په خپله لیکنه وکړه او هلته یې ولیکل:

زه نن د کابل په ښار کې وګرځېدم، هغه څه چې ما ولیدل ما باید په خپل هېواد کې نه وای لیدلي. له راتلونکي اول تاریخ څخه به د ټولو ښځینه ښوونکو معاشات دوه برابره لوړ شي، ټولو لوستو ښځو ته د پوهنې په برخه کې د کار کولو زمینه برابرېږي، هغه خویندي چې د سړکونو پر سرونو توکي پلوري یا هم خیرات ټولوي، ټولو ته به په نږدې ورځو کې په کارخانو کې د کار زمینه برابره شي او وروسته تر دې اجازه نه ورکوم چې په ټول هېواد کې ښځې پر سړکونو توکي و پلوري یا هم د خیرات لپاره پر سړکونو و ګرځېږي.

په ټول هېواد کې د برېښنا د فعالولو په موخه نن د اوبو او برېښنا له نوي وزیر سره خبرې کوم، د برېښنا ستونزه حل شي، په ټولو ولایتونو کې به د برېښنا له سمبدو وروسته لویې لویې کارخانې په کار پیل وکړي، چې د ښځینه وو ترڅنګ به بې روزګاره نارینه وو ته هم د کار زمینه برابره شي. هېوادوال به له غلو په امن شي، غله به په خپله پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروبار شي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت  ته مې دنده و سپارله چې دا چارې ترتیب کړي. د پوستې ځای یې کلیک کړ ټلیفون یې کېښود.

تر پوستې کولو وروسته یې ماته وویل: د روغتیا وزیر ته عاجل زنګ ووهه، ما هم چې زنګ ور ووهی، موبایل مې ولسمشر ته ونیوی. ولسمشر تر تشریفاتي خبرو وروسته، په همغه شېبه ورته وویل:

سر له سبا د نشه‌یانو د نیولو په وړاندې په ټول هېواد کې کمپاین پیل کړه، زه سر له سبا په هېواد کې هېڅ نشه‌يي نه غواړم. څو د ښار ښکلا، د امنیت تظمین او د خلکو د مالونو ساتنه اطمیناني شي. د دوی د تداوي لپاره ځانګړي ځایونه جوړ کړه او د با تجربه ډاکټرانو په واسطه یې تداوي وکړه. ټلیفون یې کاټ کړ او تر څنګ یې په ګردي مېز کېښود.

ناست وزیر او د امنیت عمومي رییس پوه شو چې موږ له څومره یو جدي ولسمشر سره مخ یوو. په همدې وخت کې د ارګ د پاڼې لیکنه رسنیو نشر کړه، غوغا جوړه شوه، دا خبرونه خپاره شو چې ولسمشر ښار ته په عادي توګه را وتلی د ښار حالت یې لیدلی، له ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسوولینو سره ویره پیدا شوه چې هسې نه موږ یې لیدلي یوو. له خدایه ویره نه وه، د خدای له بنده ګانو ویرېدل. ټول هېواد داسې سره وښورېدی، سیاسونو، د ولسي جرګې استازیو یو او نیم زنګونه ووهل ځان یې ډېر شاکره شاکره کوی ویل یې دا حالت د وتلو نه دی، تاسو باید ولسمشر قانع کړی وای.

زه پوهیدم چې دا حالت دوی جوړ کړی، یو نیم یې د سفارتونو تنخواوې اخلي، نور یې د ملت د وینو څښونکي دي، څو چې دوی وي دا هېواد به د خپلو غوښتنو قرباني کوي.

ولسمشر ټوله ورځ ډېره سترې تیره کړې وه، بیا یې هم اه تر خولې را ونه وتی، د چایو پیاله یې ور پورته کړ، غوړپ یې ترې وکړ، ناست مسوولین یې پر غوږ وهل وې ویل:

هر څوک چې له خپل هېواد او خپل ملت سره خیانت وکړي، تابیعت به ترې واخیستل شي او د یو فقیر په څیر به له هېواده و شړل شي.

وروسته یې د اوبو او انرژي نوي وزیر ته مخ ور واړوی، د نوي مسوولیت مبارکي یې ورته ورکړه، بیا یې ورته وویل: ته شاید پوه شوی یې چې ولې ماته د ډېرو خلکو له منځ څخه د دې بې‌وزله ملت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت لپاره وټاکلې!؟ زه پر هغه نور بحث نه کوم، خو زه ستا پر مسلکي روزنه او وړتیا باور لرم. ته پوهېږې چې د اوبو په کنټرول او د برېښنا په تولید سره همدا ملت څومره پر پښو درېږي؟ د برېښنا د انرژي تولید، د کرهنې پراختیا، له سېلابونو څخه د ځمکې د تخریب مخنیوی، د اوبو ذخیره کول، د ماهیانو د فارمونو جوړول، د باغونو او د ځنګلونو د پراختیا په برخه کې په لویه پیمانه ګټه لاسته راوړلای شو. موږ په ټول هېواد کې (۱۳۰) لوی او واړه بندونه لرو چې په تدریجي ډول باید ټول جوړ شي.

زه غواړم چې تاسو د هېواد ټول لوی او واړه سیندونه را وتړئ، د هغوی اوبه چې هر هېواد ته ځي؛ د نړیوال اصل له مخې ورته اوبه ورکړئ او قیمت یې ځنې واخلئ! تر نړیوال اصل زیات یو څاڅکی اوبه هم مه ورکوئ، ما د هغو هېوادونو له مشرانو سره خبرې کړې دي چې زموږ اوبه ورته لار نه لري؛ هغوی زموږ سره د بندونو په جوړولو کې پوره مالي همکاري کوي. د اوبو د چارو د تنظیم ادارې ته مسوولیت وسپاره چې د ټولو لویو سیندونو؛ هغه که د کابل سیند وي، د هلمند، د هریرود، د امو سیند او که د کنړ سیند وي د جوړولو او رغولو په چارو یې لاس پورې کړي، زراعتي ځمکې به مو خړوبه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې سره به مو د پاکستان له ورستو غنمو او هند ته له لاس نیولو ملت بې غمه شي. موږ به د غنمو صادرات نورو هېوادونو ته پیل کړو، د چرسو او تاریاکو د کښت ځای به غنم او نور اړین زراعتي کښتونه و نیسي. د برېښنا په جوړولو سره به مو په ټول هېواد کې کارخانې یو ځل بیا په فعالیت پیل وکړي. بهرنیان به دلته پانګونه وکړي چې زیات شمېر هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره شي.

د لویو او کوچنیو بندونو د ټرلو چارې پیل کړئ، په هلمند کې د کجکي بند، په فراه کې د بخش اباد، په پکتیا کې د مچلغو، په غزني کې د سلطان، په زابل کې د تورې، د زابل په خاک افغان کې د خرنې، په پکتیکا کې د پلتو، په کابل کې د شاه عروس، په هرات کې د پاشدان او ارزګان کې د سراب بندونه و تړئ. په دوی کې یې د ځینو زیاتې چارې ترسره شوې؛ نورې چارې یې تاسو ترسره کړئ.

زه د دې ټولو لپاره اړتیا نه لرم چې د دویم ځل لپاره له تاسو پوښتنه وکړم؛ زه دا هر څه د ملت له رضایت څخه ارزوم او په هره اوونۍ کې ستاسو د کار د پرمختګ راپور غواړم.

خبرې یې بس کړې، وزیر هر څه ورسره یاداښت کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گردي مېز پر سر پروت ټيلفون ته زنګ راغی، ولسمشر چې شمېرې ته وکتل موسکی شو او دباندې ووت. لس دقيقې وروسته بيرته خپل ځای ته راغلی او پر څيره يې د خوښۍ نښې له ورايه معلومېدې.

شپه پر پخېدو وه، په ونو کې ناستو مرغيو چڼوهاری جوړ کړی و، دباندې سپين تيز ګروپان لګېدل، تا به فکر کوی چې ورځ ده، ما هم زيات وخت له کورنۍ سره اړيکه نه وه نيولې، ډېر مصروفيت هر څه را نه هير کړي و. که څه هم په دې ښه پوهېدم چې ټول ژوند کار نه دی او ټول کار بيا ژوند نه دی؛ خو دلته مسله د هېواد وه. کلونه وروسته تور باز زما پر بازو کېنستلی و، زه يې وټاکلم چې بايد د خپل هېواد د ملت خدمت وکړم.

ولسمشر د چايو پياله ور پورته کړه، يو غوړپ يې ترې وکړ، د ملي امنيت رييس ته يې تر کتلو وروسته وويل:

زه پر تيرو خبرې نه کوم، څومره ناامني چې پر همدې خاوره تيره شوې له هر دېوال، حيوان، انسان او بې روحه شي څخه يې ښه درک لګېږي، همدلته چې څومره بهرنۍ لاسوهنې دي ورسره سم په کور دننه سياسونو، ګوندونو او چارواکو فرمايشونه هم ګډون لري، بهرني

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفارتونه او د دوی له هېوادونو راتلونکي بې پوښتنې او پاسپورټه سیاحتي او نور سیلانیان مو هم له یاده و نه وځي. دا خو خیر تر ډېره دوی د خپلو موخو د تطبیق او فشار د د الې په ډول هم ناامني جوړوي. ستا مسوولیت ته تر ما شاید ښه و پیژنې، خو زه دومره درته وایم چې د هېواد د ملي امنیت تامین د ښو استخباراتو په پایله کې ترسره کېږي. همدا ښه استخبارات بیا کولای شي په جوړېدونکي ځای کې د ناامنۍ جوړېدو سرچینه هم له منځه یوسي. زه د هېواد ټوله جغرافیه له هر ډول ناامنې، چریکي بریدونو او بهرنیو مداخلو څخه پاک غواړم، په ټولو ادارو کې د مالي او اداري فساد په وړاندې ستاسو جدیدیت او ټینګار غواړم. په ګاونډیو هېوادونو کې ستا د څارګرو ډلو فعاله فعالیت او شتون غواړم، د هرې بدې پېښې مخه و نیسئ، که بیا هم یوه پېښه رامنځ ته شي نو یې دستي سرچینه پیداکړئ. وروسته تر دې که دا یو شخص وي، یو ګوند وي، یو سازمان وي، یو سفارت او یا که یو هېواد وي؛ په هغه ځای کې ورته عمل ستاسو دا باید په څلورویشت ساعتونو کې ترسره شي. څو دښمن په دې پوه شي چې د کوم ملت له حکومت سره مې را خیستې ده. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو استخباراتي کسانو لپاره دي لوړ معاشات تعین کړه، تر څو د دښمن د زیاتو پیسو تر اثر لاندې را نه شي.

زه د هېواد د ټولو لویو او کوچینو بندونو امنیت غواړم، هلته به ضرور د زیانمن هېواد له لوري یو منفي عمل کېږي؛ که یې د بندونو په وړاندې هر ډول عمل یا ناامني جوړه کړه، ورته حالت یې په هېواد کې د خپلو استخباراتو په وسیله ور جوړ کړئ، څو دوی د ځان په غم اخته شي او نور یې موږ هیر شوو.

په هېواد کې تر ټولو زیات د د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د استازیو، سیاسي ګوندونو او ملي سوداګرو پر شاوخوا پام و ساتئ؛ دوی تر ډېره د خپلو ګټو د ساتلو او یا نورو موخو د لاسته راوړلو لپاره اوبه خړوي او ماهیان پکې نیسي. د سفارتونو د امنیت ترڅنګ د دوی هر فعالیت و څارئ، ځکه دوی د خپلو سیالو هیوادونو سره د سیالي ډېره برخه همدلته عملي کوي. زه به هلته بې له لوړ پوړو دولتي چارواکو د نورو ټولو ورتلونکو اشخاصو پر ورتګ بندیز ولګوم؛ ځکه جاهل اشخاص تر خپل هېواد خپل جېب ته ډېر وفاداره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرې لويې پروژې او هر بهرني پانگوال عزت، حيثيت او امنيت خوندي کړئ چې دوی بې زړه نه شي او دلته زياته پانگونه وکړي. پر پوله(سرحد) خپل د ځار ډلو ته امر وکړئ چې هر بې پاسپورته او بې ويزې خلک دې ټينگ کړي؛ څو چې يې خپلې موخې پرې ويلې نه وي، ژوندي يې مه پرېږدئ.

دا هېواد څه بې مالکه غوا نه ده چې هر څوک يې رالوشي او د ناروغۍ پر وخت يې د تداوي پر ځای چاړه پر غاړه ورکېږدي.

په يوه جمله کې درته وايم چې د هېواد د هرې برخې دښمن په نښه کړئ او داسې درس ورکړئ چې بيا يې بل څوک د ترسره کولو جرئت ونه کړي، زما ټوله همکاري ستاسو سره ده.

د ملي امنيت لوی رييس چې په وينه يې د هېواد مينه گډه وه، ډېر احساساتي ښکارېدی، د ټولو اوامرو پر اساس يې ولسمشر ته د عملي کېدو پوره ډاډ ورکړ.

ناسته پر همدې ځای پای ته ورسېده او نوي مسوولين له وړانديزونو او نويو خبرو سره د خپل کار لور ته رخصت کړل شول او د ناستې ځينې ټکي د ارگ له پاڼې خپاره شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ټکو سره سم د رسنيو پر سرټکو يو ځل بيا ګرم بحثونه روان شو، ځينو يې ولسمشر ته د احساساتي او ځينو يې د يو جدي ولسمشر خطاب کاوه، ځينو شنونکو دا ډول قاطع امرونه د هېواد د دښمنانو په زړونو کې د ويرې پيدا کولو لپاره يو ښه ګام وګڼی او خپل ځانونه يې له ولسمشر سره يو ځای و بلل.

بهرنيو رسنيو او د هغه هېوادونو له لوري چې زموږ پاکې اوبه به د دوی په ناپاکو هېوادونو کې بهيدې ډېر غبرګونونه ټول کړل. دوی زموږ په هېواد کې هم ځيني سياسيون او چارواکي لا تر ګنډه نيولي وو، د هغوی په مايکونو کې يې ډېر غبرګونونه وکړل، دا ډول پريکړې د اوبو کنټرول او جديديت به موږ په يو ناسم برخليک اخته کړي. موږ دومره پيسې هم نه لرو چې بندونه پرې وتړو. په اصل کې دوی هم پوهېدل چې دا به مو يو ښه برخليک ته ټيل وهي خو بس مايک د دوی ناچارو و، او ډېر غونه د نورو و.

هغه ځوانان چې ما ورسره په لومړۍ ورځ په ارګ کې ليدلي و او پر بېلابېلو بستونو وګومارل شو؛ ټولو پر يوه وخت ولسمشر ته د راتګ غوښتنه وکړه ما هم دوی تر ولسمشره را ورسول. دوی ټول ډېر ژمن، تکړه او مخلص ځوانان وو، هر يوه خپل راپور او ورسره يې حل هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کړ. ولسمشر ټول په غور وا ورېدل، داسې نه وو چې نه ولسمشر د اورېدلو حوصله لرله او نه ځوانانو د درواغو راپورونه راوړل چې یوازې خپل معاش واخلي او ځان ولسمشر ته نږدې او ژمن وښيي.

دوی ټولو ته یوازې او یوازې د راوړل شویو ستونزو د حل په برخه کې پوره صلاحیت ورکړل شو، نه داسې چې د ټول هېواد د برخلیک موجونه یې په لاس ورکړل. له دوی څخه یې و غوښتل چې د دې موضوعاتو تر حل مخکې بیا زما سره مه وینئ، ټولو ته یې رخصت ورکړ. زه او ولسمشر پاته شو، دا چې هغه ډېر ستړی و د ارام لپاره د شاهي ماڼۍ په لور ولاړی، زه همدلته پاته شوم.

شپې او ورځې تیرېدې، حالت د سمېدو پر لور روان و، موږ هم تر ډېره پر ټولو خواوو نظر ساتلی و، پوهیدو چې د دې ناوې د واده خوشحالۍ ډېر نه شي زغملای، یوه ورځ ولسمشر راته امر وکړ چې غواړم لږ ذهني ارامي او سکون ترلاسه کړم؛ اړ یم چې له خپلې مینې سره ووینم ته باید هغه را ورسوې. ما هم زنګ ورته ووهی، د مازیګر وخت و، د ولسمشر مینه مې را ورسوله. رسمیات هم نه وه، د پغمان لوري ته ولاړو، ولسمشر او مینه یې د موټر په شاتني سیټ کې ناست وو، لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



له طبیعته رخصت شوی و او ځای یې تیارې نیولی و. اسمان خانه له وریځې ډکه وه، زموږ له تګ سره د باران څاڅکي یو، یو پر ځمکه لګېدی. ماښام و، ټولو ښاریانو سترې ورخ کورونو ته رسوله او د ښار له ګڼې ګوڼې یې ځان ایستی. په دې نرمه باراني هوا کې موږ هم په ډېر توبیت پغمان ته را ورسېدو. زموږ سره ډېر موټرونه وو، خو داسې هم نه برېښیده چې ولسمشر دې راسره وي. ټول موټرونه مو تر اصلي ځای یو کیلومټر مخکې ودرول، زه، ولسمشر او مینه یې پغمان قصر ته ننوتو چیرې چې به د وخت پاچاهانو ناستې او مجلسونه پکې کول.

دا چې د راتګ پلان مو همدلته و، د ښکلیو ودانیو شاوخوا دیوالونه د څراغونو رڼا ته ښکلي ښکارېدل. زه ترې را ووتم دوی ته ډېر نږدې ودرېدم. کله کله به مې د دوی خبرې هم سمې اورېدلې، شپه پر سر د اقتدار را روانه وه، روښنایي یې تر سبا په خوب ویده کړه، شنې ونې، اوبه، ډبرې او کږې وږې لارې د څراغونو رڼا ته لکه مور چې په تیاره کې خپل ماشوم خلاص کړی وي او په اله لولو یې ویده کوي. زه اوبو ته ورغلم، کله کله به مې یوه وړه ډبره د اوبو منځ ته ور غورځاره کړه، د اوبو څپې به یو په بل پسې شوې، د باران اورښت نور هم ډېر شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څاڅکو يې په اوبو کې وړې وړې کوبۍ"حباب" جوړولې. ولسمشر هم له خپلې مينې سره په باندار لگيا و، نيمه شپه د باران څاڅکي د ونو پر پاڼه لگېدل او وړه ټکاه يې خته. د مينې پر لمدو غومبرو يې وريښتان پاشل شوي و. خړې سترگې يې تر تورو باڼو گاڼو لاندې يو بل بغل ته داسې اړولې، ته به وا د ولسمشر ساتوونکي رسمي تعليمات ترسره کوي. نرۍ جگه پزه يې پر سپين مخ داسې ښکارېده لکه د قطارو ستورو ترځنگ د څوارلسم سپوږمۍ، د لرگو اور بل و، لمبې ته يې پر ديوال د مېين او مينې د وجود هر غړی لکه رسم کړي انسانان داسې معلومېدل. د اورښت شور او د لرگيو د سوځېدو له ټکا پرته بل څه نه اورېدل کيدل او د دې عشقي ماحول خوند يې نور هم زيات کړی و. د باران له اورښت سره وړه سيلۍ هم پيل شوه، چې دغه خوږه شېبه يې ورو ورو زيانمنوله. دلته دوه ساعته منتظر شو، له موږ سره په نورو موټرونو کې راغلي کسان يو هم زموږ له هدفه نه و خبر، چې څه کوو او له چا سره وينو؛ خو لږ وروسته زه ولسمشر ور وغوښتم، څنگ ته يې ورغلم.

ولسمشر د ياد ځای او منظمې فضا د برابرولو له امله مننه وکړه او يادونه يې وکړه چې نور زموږ باندار پای ته رسيدلی دی. باران هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه پر عوامو چې په قهر وي داسې په تيزۍ اورېدی، نه يې بې کوره کوت او نه په ماڼيو کې دننه چې لامل به يې هم د کورو والا وي چې دنگې ماڼۍ يې د همدې بې کوره شويو خلکو په پيسو اباد کړې دي. که يې زه نه وم خوړلی بې سرپناه خلکو ته به خپل حق ور ورسېږي، اسمان دې د دوی پر حال نور اوښکې نه را تويوي، زه خو لا ژوندی يم.

د سفر تياری مو ونيو، لس بجې وې چې موږ حرکت وکړ، ارگ ته تر رسېدو وروسته مې د ولسمشر مينه تر کوره ورسوله. دا چې زه ډېر وخت کور ته نه وم تللی، نو مې دا موقع له لاسه ور نه کړه، ناوخته کور ته راغلم. زموږ کور لا په هماغه زاړه ځای کې و، د کور دننه حالات به نو څه درته وايم؛ سم دم د زړو موټرونو تم ځای و. د غنيو"جولاگی" ډېر ټالونو پکې جوړ کړي وو، داسې هم نه و چې زموږ په توان نه و، خو چې حقيقت سي د معاش په پيسو يوازې کور چلېږي؛ ښه موټر، درې منزله کور او نور بهرني سفرونه په معاش نه کېږي. ضرور به يې ترڅنگ يوه لنگه غوا ولاړه وي، چې ما دا غوا نه درلوده او نه مې د پاللو وس درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته په نیمه شپه زما راتګ هم جالب و، خو له مور او پلار سره تر لنډ مجلس وروسته مې د خوب خونې ته راغلم، له مېرمنې سره مې مجلس وکړ، زوی مې وختي ویده شوی و. بې له ښکلولو مې نور هېڅ مینه ورسره ونه کړه. ویده شوم، سهار وختي د ارګ په لوري ولاړم. کابو یوه میاشت بله پر تیرېدو وه، هر څه په منظم ډول مخته روان و، خو یو دم داسې څه پېښ شول چې مورږ یې د پېښېدو فکر هم نه و کړی، زمورږ لپاره ډېره جالبه وه ځکه د لومړي ځل لپاره داسې څه پېښېدل.

له دومره بېړنیو اصلاحاتو او پرمختګو سره سم به نو ګاونډي هېوادونه چیرې پر ارامه کېنستل، د دوی چې په فکر کې هر څه د حیواناتو فکرونه وو، غور یې ورباندې کړی وو. په وروستیو کې یې مورږ داسې نښې ولیدلې چې د هېواد په ځینو سیمو کې د ځینو ډلو له لوري دا ډول تبلیغات کیدل چې ولسمشر د اوبو د کنټرول وړتیا نه لري او نه هم ورته بودیجه لري، یوازې د خلکو په سترګو کې خاورې ور شیندي، دوی دا هم ویل چې ولسمشر د نورو هېوادونو د مشرانو په اشاره د فشار په ډول ځینې سیاستونه پر مخ وړي چې موخه یې پر چاروا کیو نیوکې او د دوی امتیازات کمول و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ ولسمشر راته وویل چې د ټولو سیاسي ګوندونو مشران، مرستیالان او رسنۍ را وغواړه، ما هم ټولو ته خبر ورکړ، له دوی څخه یې د ټولو سیاسي ګوندونو مشران راغلل بې له دوو ګوندونو څخه زما په فکر هغوی ته خپلو بادارانو اجازه نه وه ورکړې. غونډه پر پیلیدو وه چې ولسمشر ته مې د هغو دوو ګوندونو د مشرانو نومونه او د فعالیتونو معلومات ورکړل چې له عدلیې وزارت سره ثبت او راجستر هم نه و. زه پوهېدم چې ولسمشر مخکې تر دې چې نوي موضوعات واوري اول د خپل هېواد د چټلي په اړه پریکړه کوي، همداسې وشول غونډې ته تر دننه کېدو مخکې ولسمشر لومړی هغه وړه د نوټ کتابچه د مېز پر مخ کېښوده، د بېلابېلو رسنیو ژورنالیستان راغلي وو، ولسمشر له ټولو د راتګ مننه وکړه او یادونه یې وکړه چې همدا دوه ګوندونه، نومونه یې هم یاد کړل، د جواز نه لرلو او د مالي سرچینو د نه روښانتیا له وجې فعالیت څخه بند کړل او د دې ګوند ټول غړي او پلویانو ته یې خبر ورکړ چې نور ارام کېنئ، پر خپلو تیرو غلطیو اعتراف وکړئ، نور دا هېواد د نورو غېږ ته مه اچوئ.

وروسته یې له ناستو ګډونوالو څخه وغوښتل چې ټول دې د خپل سیاسي ګوند اړوند اسناد وسپاري؛ څو په دقیق ډول و کتل شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو پر فعالیت له سره غور وشي< همداسې یې وکړل خو د ټولو سلو یا زیات و کم ګوندونو څخه یې یوازې درې ګونده له عدلیې وزارت سره ثبت وو، چې هلته پکې دوی د خپلو فعالیتونو، مالي امکاناتو او طرز العمل څخه یادونه کړې وه. پاتې یې ټول د چارواکیو د لاس نارسمي الې وې. ځینې یې د ګاونډیو هېوادونو لاسپوڅي وو چې هر قدم یې د هغوی د ګټو لپاره اخیستی. هغه ګوندونه چې ثبت نه وو، ټول مسوولین یې جلا اطاق ته رهنمایي شول. ولسمشر همدلته د رسمي ګوندونو له استازیو سره پاته شو، پر مخ یې د ناهیلۍ څپې له ورایه ښکاریدې، هغه پوهېده چې موږ له دننه خوړل کېږیو، زموږ دښمن زموږ خپل ځان یعنې زموږ خپل خلک دي. د نوټ په کتابچه کې یې ولیکل:

هغه وخت د دښمن پېژندل ستونزمن وي چې دښمن ستا جامې درسره واغوندي، ځکه ته نه پوهېږې چې اول خپل ځان ووهې او که خپل دښمن. او د دوه مخو خلکو په اړه زه په دې فکر کې یم چې اول یې پر کوم مخ پر څپیړه ووهم.

کتابچه یې بنده کړه او ګډونوالو ته یې مخ ور واړوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو پوهېږئ چې موږ د هغه زخمي هېواد پر مات ځيگر، زخمي زړه او گوډو پښو حرکت کوو، چې له کلونو راهيسې يې د بدن غوښې پرې کوو او خپله شپه پرې تيرو. ايا تر ننه مو پوښتنه کړې چې هېواده موږ ته خو تا خپله سينه څيرلې او ځای دې راکړی، خپل ځان دې زخمي کړی؛ مگر موږ دې ساتلي يوو، موږ تل ستا له خاورې، ختې او کانونو څخه خپل نسونه ډک کړي، موږ چې بهر ته ځو ستا له نومه استفاده کوو. ستا د نوم برکت دی چې موږ ته هر ځای په درنه سترگه کتل کېږي، خو نن ته له ما څه غواړې؟ وايه چې هر څه غواړې نن يې ورځ ده. ته يوازې امر وکه! ايا تر اوسه مو له هېواده دا ډول پوښتنه کړې ده که، يا؟

ټولو سرونه ټيټ واچول، ځکه چې هر يو خپل وجدان ته ملامت و.

تاسو نن له خپلې مور سره وعده وکړئ چې په راتلونکي به يې هره ستونزه له منځه وړئ، د هغې ستونزې منشا که زه(ولسمشر)يم او که يو عادي کس. تاسو په ډاډه زړه د حکومت پر هرې واقعې ستونزې نيوکه وکړئ، ترڅنگ يې حل ورته وړاندې کړئ، د خلکو رسا غږ و اوسئ، يوازې د خپلو همفکرو وکيلانو مه جوړېږئ، ټول ملت په واقعې ستونزه کې ستاسو سره همفکره دی. حکومتي چوکاټ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو هر حق او ستاسو هره قانوني غوښتنه ومني، تاسو مسووليت لرئ چې د هېواد او خاورې د هر دښمن په وړاندې ودرېږئ او له منځه يې يوسئ. زه تاسو ته ډېرې خبرې نه کوم. هدف مې د همدې ناقانوني ډلو او د اهدافو د تطبيق د مصنوعي الو پيداکول وو. تاسې بايد له همدغه ځايه او د همدې رسنيو له لارې ولس ته ډاډ ورکړئ، دوی پر تاسو باور کړی، نو ايا تاسو يې هم باور ماتوئ؟

ولسمشر له څوکۍ پورته شو او د هغه نورو پرديپالو اطاق ته ورغی، په همدې اطاق کې د ناستو گوندونو مشرانو، د رسنيو تر مخ پر خپلو ټولو تيرو کړنو اعتراف وکړ؛ له ملت څخه يې مخامخ ښښنه وغوښته او وعده يې وکړه چې سر له ننه به د ملي مسايلو، ملي ارزښتونو او د هېواد د جغرافيې او خاورې ساتنه په پوره رښتنولي سره کوي.

د همدې خبرو په کولو سره يې په سترگو کې اوښکې را ډنډ شوې، پوهېدو چې د تيرو گناهونو، مخالفتونو، وژنو او هر ډول فسادي چلند په اړه به راڅخه پوښتنه کېږي، خو د دې هر څه باوجود يې د هېوادوالو زړونه وگټل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلطۍ منل، د اصلاح پیل دی؛ مګر غلطۍ نه منل، د نورو غلطیو پیل دی چې دا یو ریښتنی او بشپړ واقیعت دی.

ولسمشر ګړندي ګامونه اخیستل، تا به فکر کوی چې پر هېواد یې یوه بده بلا راغلې ده. موږ نن د هغو چټلیو پاکي ته را ولاړ شوي وو، د کومې چټلۍ له کبله چې دا څو لسیزې هېواد د مرګ پر بستر پروت و.

ټول هغه مشران چې له ارګه دباندې یې ځانونه د هېواد سالاران، باداران او مالکان ګڼل؛ سپیره مخونه پر خیرنه غالۍ داسې ناست وو، تا به ویل چې په ماښیو کې ناست دي. ملامت نه وو، ځکه ولسمشر دوی ته خپله اصلي څېره ور وپېژندله، د ټولو په مخونو کې د بدمرغۍ، پردیپالۍ او جاسوسۍ نښې له ورایه ښکاریدې.

ولسمشر په خبرو پیل وکړ؛ که تاسو د خپلو ګناهونو په اړه ولس ته اعتراف وکړئ، نو سزا به مو لږ را کمه شي او که اعتراف و نه کړئ، فکر نه کوم چې تاسو ته دې بیا د اعتراف کولو وخت هم درکړل شي.

ما چې د ولسمشر خبرې واوریدې او د بانفوذه ګوندونو د مشرانو روان حالت مې ولیدی؛ نو پوه شوم چې ولسمشر یو نیمه دیکتاور
ډیموکرات دی. یو بشپړ ډیموکرات داسې عمل نه کوي، هغه بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فشارونو ته هم فکر کوي، خو بشپړ دیکتاتور هم نه دی، ځکه هغوی تر ډېره ظالمان یا بې پروا وي؛ مګر ولسمشر ډېر زړه سوانده، قاطع، ارام او با احساسه رهبر و.

د سیاسي ګوندونو مشرانو لکه د نورو حکومتونو وې غوښتل چې یوې روغې ته سره ورسېږي، د خپلو متحدینو د رایو، نفوذ او ملاتړ سودا وکړي، خو د دې هر څه پر وړاندې یې د ولسمشر وړاندېز دوی ته هغه اوله خبره وه؛ نور هیڅ هم نه. هغه له داسې متحدینو او مشرانو څخه نفرت کاوو چې د هېواد سره د خیانت په تور یې لاس لړلي وي.

اخیر هم دوی پرېکړه وکړه چې غواړي په خپلو تیرو غلطیو اعتراف وکړي، له ولسه یې ښښنه وغوښته او نور تر دې چارو تیر شوو. رسنۍ حاضرې وې، د ژورنالیستانو د پوښتونو ځواب ته یې د ټولو په استازیتوب یو مسوول وټاکی چې هغه به له هرې خبرې مخکې د ټولو نومونه یاد کړل او وروسته به یې خپله یوه غلطۍ یاده کړه او ځواب به یې ورکړ.

ما یې مرکه دلته راوړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په دې اقرار کوو چې تل مو د ملت د بچیانو پر سرونو سوداوې کولې؛ خپل پلویان مو هره شپه په سیاسي مشارکتونو او ډلبازیو کې خرخول. موږ د خپلو خلکو پر سرونو له پردیو استخباراتي کړیو څخه پیسې اخیستې. د هېواد د ملي مسایلو پر وړاندې ځکه چپ پاتېدو چې زموږ د بادارانو امر و. موږ هره موضوع ځکه اختلافاتو ته ټېل وهله، څو له حکومت څخه اساسي مسایل ورک کړو. موږ ځکه زورواکي کوله، څو حکومت د خپلو پلویانو په سترگو کې ټیټ وښیو. ځکه مو بهرني سفرونه تر خپل کار زیات کول، څو نوې پروژې ترلاسه کړو. همدا موږ وو چې د قومونو ترمنځ مو نفاق ته لمن وهله. همدا موږ وو چې په ځینو ځایونو کې مو ناامني جوړوله. تل به له ستونزې پرته د ولسمشر پر وړاندې درېدو. همیشه مو له خپل نفوذه غلطه استفاده کوله. زموږ مالي چارې د نورو په لاس کې وې، ځکه هر څه چې به راته ویل کېدل موږ هغه به کول، نه هغه څه چې اړتیا به یې وه. موږ وبښئ او مه پرېږدئ چې نور هم زموږ په څیر شي، موږ همدا د حماقت ځنځیرونه غاړې ته اچولي وو، خپلې بې هدفه بریاوې به مو ولمانځلې، نن تاسو ټول ځکه تر موږ غوره یاست چې تاسو هېڅکله له خپل دویم مخ څخه استفاده نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور یې خبرې بس کړې او ټولو یو بل ته مړې سترګې ور واړولې، پلویانو یې د دې پر ځای چې پر ارګ هجوم راوړي، سړکونه بند کړي، اورونه بل کړي، لویې لارې وتړي، یا هم په ټولنیزو رسنیو کې حکومت جابر یا ظالم وښیي، د خپلو مشرانو پر کړنو یې پښېماني وکړه. دوی نور پوه شوو چې موږ په پردیو پسې داسې روان و لکه د خپلې مور سکني چې مو وي. هېچا د خپلو مشرانو د بندېدو یا دا ډول حالت په خاطر هېڅ غبرګون و نه ښود، ځکه حقیقت روښانه شوی و.

ولسمشر ټولو ته د دې په خاطر چې کلونه کلونه یې له دې خاورې، هېواد او خلکو سره خیانت او ظلم کړی و، د ځارنوالي په امر په شل، شل کاله بند محکوم کړل او د زندان د دروازو شاته ولوېدل. له دې سره یې هېواد له لوی غمه، بې غمه کړ.

د نن ورځې کار همدومره و، ولسمشر د تیرو ورځو د پرېکړو د عملي کیدو په اړه را پور وغوښتی چې ما هم د خپل راپور تر څنګ هغه نورو ځوانانو ته خبر ورکړ چې د خپلو برخو راپوروونه مو نن را ورسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته زنگ راغی، ځان یې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی معرفي کړ او وې غوښتل چې ولسمشر سره غواړي خبرې وکړي، ما ټلیفون ولسمشر ته ورکړ. ولسمشر زیاتې خبرې ورسره وکړې، وروسته یې ټلیفون کاټ کړ او یادونه یې وکړه چې نړیوال زموږ له اصلاحي کارونو بالکل خوښ دي. دوی همدلته د پانګونې نیت لري، د هېواد ورځ تر بلې ښه امنیت، د ولس رضایت او د مسلکي کسانو ګومارنې هغه څه دي چې د دوی فکر یې موږ ته را اړولی دی. تر څنګ یې د هېواد د ټولو بندونو جوړولو وعده وکړه، همدا خبر رسنیو ته ورکړل شو چې د بندونو جوړولو هوکړه شوې او ژر به یې عملي چارې پیل شي.

د ولسمشر امرونه پر ځای شول. نن د ورځې ستړیا زیاته وه او ماښام ته باید د نورو ملګریو سره یوځای د تیرو پلانونو د تطبیق په اړه خپل راپورونه برابر کړم.

لمر پر لوېدو و، ناوخته و د ارګ ګڼه ګوڼه کمه سوې وه، خال خال به یو دوه تنه سره ناست و. له ذهني ستړیا د خلاصېدو په موخه مې د شنو چمنونو په منځ د شګو په وړه لاره قدم واهوو. د مرغیو چوڼا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالمغال به طبیعت نور هم ښکلی کړ. ناڅاپه مې دوو ناستو کسانو ته نظر ور واوښت.

دوی چې مې د یوه مېز او دوو څوکیو څنګ ته ناست ولیدل فکر مې وکړ چې فضا جانانه ده. دوی به هم خدای خبر د هېواد د کومې نېکمرغۍ په اړه خبرې کوي او که هغه نه وي د یوې ستونزې پر حل خو به ضرور سره لګیا وي. و مې وپېژندل په ولس کې د ښه نوم خاوندان وو. ور نږدې شوم، دوی په خپلو منځو کې خنداوې کولې، یوه خبره یې هم د هېواد په باره کې ونه کړه، هره خبره به یې د کاروبار یا پیسو وه. کرکه مې ترې وشوه ځنې ولاړم، خو په هغه ماښام باور وکړئ د همدې دوو جنابانو انځورونه پر رسنیو ښکته پورته کېدل چې پلاني او بیستاني د هېواد پر روانو حالاتو یو له بل سره خبرې وکړې. ځینو پوستهونو ته مې د خندا ستیکر ورکړ او ترې تیر شوم؛ مګر د هغو رسنیو په نظریاتو کې د عوامو ښه نیت او باور وژلم.

همدا مې درد و، همدا مې مظلومیت و چې موږ کلونه کلونو د داسې مشرانو ناستو ته خوشحاله وو، چې دوی به د خپل کاروبار تر خبرو وروسته د ولس د کاروبار نوم ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیاره شوه، په اسمان خانه کې ګڼ ستوري وځلېدل، پر دېوالونو راځوړند سپین ګروپونه ولګېدل، داسې تیزه روښنایي وه چې که موږ سترګې لرلای نو هر خاین او غل به مو پېژندلی و. تل مو یوازې خپلې عینکې پاکولې، څو خپله شاوخوا پاکه ووینو چې خبره په عینکو کې نه وه؛ بلکې زموږ په شاوخوا کې وه.

پر ټاکلي وخت موږ ټول په ځانګړي اطاق کې حاضر وو او د ولسمشر د راتګ انتظار مو کاوه. وخت لا نه و تیر شوی چې د ولسمشر په دید مو سترګې ډکې شوې او سره یوځای شوو. ولسمشر د ټولو د روغ صحت، کاروبار، مصروفیتونو او لاسته راوړنو پوښتنه وکړه او یادونه یې وکړه چې هیله لرم په ټولو چارو کې به موفق اوسئ، زیاته یې کړه چې وخت کم دی د کار خبرو ته به را شوو.

هر یوه پر خپل نوبت خپل راپور وړاندې کړ، د پرېکړو د عملي کېدو او د ولس د رضایت یادونه یې وکړه چې ما ټول هغه وخت له ځان سره یاداښت کړل؛ څو ملت ته یې ور یاد کړم. ځکه دا ملت ډېر بې حافظې دی، هر دښمن په یوه وړه خندا ښښې، هره ناروا یې هیروي او له دوی څخه د کار او خبرو خلک ورک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی شیرخان د هېواد په ټولو ولایتونو کې له حکومتي چارو، د حکومتي مسوولینو له کړو وړو او اخلاقو، په ولسوالیو او کلیو کې د حکومت حاکمیت، د خلکو رضایت ډېر ښه روښانه کړ او په سیمه‌ییزه کچه یې د ځینو ستونزو یادونه وکړه.

په نظامي برخه کې د مسلکي کسانو زیاتېدو ډېره ښه پایله ورکړې وه، له خلکو سره د نظامیانو له لوري ناوړه چلند ختم شوی و. د رهبرۍ پر چوکیو د وړ اشخاصو له ګومارنې سره د امنیت ترڅنګ د ولس رضایت حاصل شوی و. وژنې، اختطاف او چاودنې اوس د خلکو هیرې شوې وې. د غلو او غلاوو ګراف مخ پر ټېټېدو و، د نظامیانو د معاشاتو په ډېرېدو سره هیڅ نظامي د غله او ډاکو ملګرتیا نه کوله. د قانون تطبیق پر عام او خاص یو ډول و، له نشه‌یانو د هېواد ټول ښارونه پاک وو، د دوی د درملنې چارې په ښه ډول سره روانې وې؛ ځینې یې له یاد روغتون څخه بهر شوي او روغ وو. خلکو ته د کار زمینه برابره شوې وه، بهرنیو او په کور دننه سوداګرو پانګونه پیل کړې وه، ټولو فابریکو په کار پیل کړی و، چې ورسره سم د بېکارۍ ریښې هم مخ پر وچېدو وې. د سړکونو پر سرونو خیرات غوښتونکې، د توکو پلورنکې خویندې او مزدوران نه ښکارېدل. په هېواد کې د زده کړو دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصې شوې وې. د پوهنې، روغتیا، دفاع، کورنیو چارو او نورو وزارتونو کې، همدارنگه د ولایتونو په ټولو ریاستونو کې د شفافې ازموینې له لارې مسلکي کسان پر دندو گومارلو؛ خو د ټول ولس توجه جلب کړې وه. هر چاته خپل حق رسېدی، د زده کړو بهیر د اصلاح او ښه کیفیت په لور مخته تلی، د نجونو د ښوونځیو له خلاصېدو سره یې یوی لوی اکثریت له ناپوهې او جهالته ژغورل شوې وې. خویندې به هر سهار تر سپین پړوني لاندې د ښوونځي په خوا تلې، کوم نشه‌یې، غل او یا د یو چارواکي زوی د دوی د تگ او راتگ په لارو کې د سپنې وهلو جرئت نه شو کولای. د ښځینه ښوونکو د معاشاتو په لوړېدو سره دوی بل مسلک ته نور زړه نه ښه کوی، همدارنگه د نارینه ښوونکو په روحیه او ټولنیز حیثیت کې د پام وړ بدلون راغلی وو. د تعلیمي نصاب اصلاح روانه وه. د بهرنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو په راتگ سره اوس زموږ هېواد یو ځانگړی نوم او نښان درلود، زموږ مسلکي سفیرانو د نورو هېوادونو پام ځانته را اړولی و. له هغوی سره یې د افغانستان واقعي تصویر شریک کړی وو، هلته د مېشتو افغانانو حیثیت تر پخوا ډېر لوړ و، د هغوی ستونزو ته پر وخت رسیده‌گي کیده. د قانون تطبیق پر واړه، زاړه، خان او چارواکي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول و، هېڅوک ترې مستثنا نه و. د برېښنا له فعالیدو سره د خلکو د ښه ژوند کچه دوه برابره شوې وه؛ فابریکو خپل کار چټک کړی و، کاري چاپیریال د ټولو برخو ورځ تر بلې پراخېدی او ګڼ شمېر بې کاره هېوادوال په کار شوي وو.

دې چارو او نویو بدلونونو موږ ته نوره انرژي هم راکوله. اوس له نړۍ سره د سیال کېدو په خوا و، خوښي مو زیاته وه، هېواد د پرمختګ په لوړو پوړونو کې و، هر بد سهار د نېکمرغۍ پر سهار بدل شوی و.

د عام ولس رضایت د هغو له خوښو څېرو ښکارېدی؛ خو لا یې هم زړونو ډېر نور څه غوښتل، چې موږ یې هم د پوره کېدو لپاره ورځ او شپه یوه کړې وه.

په دې خوښو او روغو ورځو کې ناڅاپي د مالي فساد اړوند یوه داسې قضیه رامنځته شوه چې په خبرېدو یې ټول حیران شوو.

زبیر خان چې د فساد او مفسدینو اړوند د څارنې او راپور ورکونې مسوول و، وې ویل: زه چې له کومې ورځې په دنده ګومارل شوی یم، هڅه مې کړې چې د فساد اړوند شواهد ترلاسه او راټول کړم. له بده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغه باید ووایم چې د هر فساد تر شا د یو مفسد لاس دی، د هر مفسد تر شا د یو چارواکي لاس دی او هر چارواکی بیا د یو جرم تر سایه لاندې پټ دی. ستاسو له راتګ سره که مالي فساد له منځه نه دی تللی؛ مګر د پام وړ کمښت پکې راغلی دی.

دلته په مالیې وزارت کې دولتي بستونه خرڅېږي، په ټولو ګمروکونو کې پراخ فساد اوس هم شته، چې له کبله یې د اولیه توکو نرخونه لوړ ختلي. سوداګر له وارداتي برخې ښه خوله نه وهي؛ فساد، د دولت سخت دریځي او ځنډنی سیستم یې ښکاره لاملونه او شواهد دي، چې د مالیې وزیر ورباندې تورنېږي او ترڅنګ یې د خلکو له لوري د هغه په اړه اقرارونه دي.

زه ډاډ درکوم که موږ د دې فاسدو اشخاصو مخنیوی و نه کړو، د هېواد په مالي بودیجه کې تر نورو کلونو ډېر زیات عواید راټولوو، موږ به که ژوند و مالي خپلواکي ته ورسېږو. په محکمو کې د فساد له امله د ځینو خلکو په حق کې بې ځایه پرېکړې د دې سبب شوې چې خلک یې له دولت سره دښمني ته هڅولي، چې اوس هم پکې اکثریت پرېکړې د حق پر اساس نه؛ بلکې د پیسو د بنډل پر اساس کېږي.
همدې محکمو په خلکو کې بدبیني رامنځ ته کړې، د دولت او خلکو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ یې فاصله زیاته کړې، هلته د غریبو او مفلسو خلکو دعوې هیڅ ځېړل کېږي نه، ځکه دوی د خپلې دعوې د ژر حل لپاره پیسې نه لري.

سندونه مې تر لاسه کړي او تاسو ته یې په واک کې درکوم چې پر اساس یې د ولسي جرګې د استازیو د زورواکۍ ښکاره ثبوت دی چې دوی څنګه له همدې قانوني زوره، ناقانوني استفاده کوي. د رییس، وزیر او اړوند ګمرک له عوایدو څخه یوه اندازه پیسې دوی هم ترلاسه کوي؛ ځکه یې پر وړاندې چوپ پاته دي. که مبالغه ونه کړم دوی همدې کار ته خپل اصلي کار ویلی زه یې په اړه نورې خبرې نه کوم، تاسو کولای شئ چې همدا ترلاسه شوي ثبوتونه او سندونه وګورئ. ډېره زیاته مننه محبوب ولسمشره!

ولسمشر له ډېرې غوسې مېز په سوک ووهی، چېغه یې کړه:

ای خلکو!! تاسو ته بل پیغمبر نه راځي، ځانونه په خپله سم کړئ، له خپلو شتمنیو څخه غلاوې مه کوئ، تاسو د ټول ملت وینه زبیښئ، دا یوازې زما او د دې څو چارواکو حق نه دی، همدا ددې خاورې د هر فرد او راتلونکي نسل حق هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ته يې د اوبو بوتل پروت و، يو غوړپ يې ترې وڅښلې، احمدخان د خبرو نوبت وغوښت.

احمدخان هېواد ته د راتلونکو کډوالو اړوند چارې ترتیبولې، ولسمشر غوښتل چې په هېواد کې له اصلاحاتو، امنیت او ټولنیز نظم څخه وروسته؛ د مهاجرو د راستنېدو او د هغوی د ژوند په باب هم یو څه واوري.

احمد خان ساه واخیسته وروسته، یې خبرې پیل کړې:

زه ډېر خوشحاله یم چې په اوسط ډول د ورځې له لسو څخه تر دېرشو کورنیو پورې زموږ مهاجر وروڼه هېواد ته را کډه کېږي، موږ د دوی د راتګ په موخه په هېواد کې د دوی د خوښې په ځای کې د ژوند کولو زمینه مساعده و، د کور او کاروبار غم یې خورو، دوی په هېواد کې ستاسو له راتګ وروسته د حالاتو د سمون په خاطر نور نه غواړي تر پردي قانون لاندې ژوند وکړي، دوی ټول زموږ له ګاونډي هېواد څخه د باډر او تورخم پر لارې را اوړي او د هېواد پر مقدسه خاوره قدم ږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ نوره هم هڅه کوو، څو د دوی ښه تصویر وړاندې کړو او ټول مهاجرین هېواد ته راستانه کړو، په همدې برخه کې ستاسو له مستقیم واک راکولو او باور څخه د زړه له تله مننه کوم، محبوب ولسمشره!

ولسمشر لږ سره وغوړېدی، خواشیني یې کمه شوه، خبرې یې واوریدې د خپل واک شتون یې موثر وګڼی، ملامت هم نه وو ځکه چې له یو قوي هوډ، ژمن ټیم او ښو پلانونو سره راغلی وو، موخه یې خدمت و.

نوبت اکبر خان ته ورغی او هغه هم په سپینو پاڼو لیکل شوی متن، سترګو ته ونیو او خبرې یې پیل کړې:

په هېواد کې د برېښنا له فعالیدو سره سم صنعت پرمختګ کړی؛ د بېلابېلو توکو فابریکې فعاله شوې، زیات شمېر افغانانو ته د کار زمینه مساعده شوې، د خویندو بېکاري مخ پر ختمېدو ده، ملي او نړیوالو سوداګرو خپلو تجارتي چارو ته پرمختګ ورکړی، دوی له ټولنیز نظم او ښه امنیت څخه په استفادې خپله سوداګري پراخه کړې ده؛ صادراتي برخه د هېواد پر پښو درېږي، پر وارداتو منظمې مالیې ښه تاثیر کړی، که چیري په خپل وخت ورسره د فساد مخنیوی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي؛ موږ به له اقتصادي پلوه هېواد ډېر ژر پر پښو ودروو، مننه زموږ ګران ولسمشره!

همداسې مو مجلس ادامه درلوده، د ورځنیو چارو د راپورونو پر اساس خلکو له قضایه قوې څخه سرټکوی؛ خو د امنیت، ټولنیز نظم، ټولنیزې برابرۍ، د قانون تطبیق، د کار زمینه، د برېښنا دایمې سمیدل، د ښوونکو د معاشاتو لوړول، ښوونکو ته د کور لپاره د ځمکو د وېش لړۍ، د مدرسو جوړول، د چارواکو ترمنځ د یو بل منل، د سیاسونو اصلاح او خپلې لارې ته سیده کول، د ښوونځیو، مدرسو برخې مسلکي کسانو ته سپارل او د نشه‌یانو درملنه او ورته نور اصلاحات د دوی زړونه ګټلي وو او له یادو اصلاحاتو څخه یې ملاتړ کاوو.

ماخوستن ناوخته مو مجلس ختم شو، تر ډېره د هیلو مړه څراغونه لګېدلې وو، ستونزې هم موجودې وې، خو د کلونو مرداري په یوه کال له منځه نه ځي؛ ځیني انسانان یا له یوې مخې له منځه ولاړ شي او یا اصلاح شي، څو د ده هغه نیمګړی فکر، د شتمنۍ د ډېرښت تلوسه او نورې بې ځایه کړنې سمې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کس راغی، د ډوډۍ خوړلو لپاره يې راته وويل، ما هم ولسمشر ته غوږ ورنږدې کړ او ورته و مې ويل چې د ډوډۍ وخت دی! ولسمشر په شونډو کې راته وخندل په ټيټ غږ يې راته و ويل: هلکه ډېر نس‌پرست يې، درځه چې دغه هيله خو دې نېمگړې پاته نه شي. ولاړو ټولو ډوډۍ يو ځای وخوړه، ولسمشر له ټولو هغو ځوانانو څخه چې خپلې چارې يې په برياليۍ توگه ترسره کړې وې، ځانگړې مننه وکړه. وعده يې وکړه چې څه زما ولس غواړي او د دوی د ښې راتلونکې سبب کېږي، هغه به ډېر ژر ترسره کړم. ټول رخصت شوو، يوازې زه او ولسمشر پاته شوو.

يوه شېبه وروسته ولسمشر ته زنگ راغی، ولسمشر نېغ ما ته وکتل او زه يې هم د کتلو په دليل پوه شم چې بايد يوازې يې پرېږدم؛ تر څو د سترې ورځې پای په يو څو خوږو خبرو او خندا سره وکړي.

خپلې کوټې ته راغلم، د چايو ډکه پياله د مېز اېښې وه، سترې وم د شنو چايو څښل که څه هم غوښې نه دي؛ خو تر دې هم په کمه نه دي. ټيلفون مې را وکېښ مېرمنې ته مې زنگ ووهی، ځکه چې دوی به له اړتيا پرته ما ته زنگ نه وهی او زنگ به زه خپله ورته وهم. په دې چې زما مصروفيت يوازې ماته معلوم و، دوی هغومره نه شو درک کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر جوړ پخیر وروسته مو ښه مجلس وکړ، له خپل زوی سره مې هم خبرې وشوې، د ماشومانو خبرې وې، تر خبرو یې خندا ډېره وې، خدای پاماني مو وکړه او اړیکه مې پرې کړه.

شپې او ورځې تیرې شوې، تر څو ورځو وروسته د چارو د ترتیب او مهالوېش له مخې ولسمشر د ولایتونو له قومي مشرانو، علمای کرامو، ځوانانو، سیاسونو او چارواکو سره کتل؛ د دوی ستونزې او وړاندیزونه به یې اورېدل، تر پخوا ټول ډېر اصولي شوي وو، پر وخت راتګ، نظم، د موضوعاتو تسلسل، پر اړینو موضوعاتو بحث او ورته نورو مسایلو سره یې پوره بلدتیا پیدا کړې وه. په ښارونو کې حالات عادي و، هر څه مو په ډېره منظمه بڼه او د ولس له رضایت سره سم ترسره کول. د قومونو ترمنځ یووالی راغلی و، هر قبیلې ته د خپل نفوس په اندازه په حکومتي چارو کې ونډه ورکړل شوې وه، ټولو پر خپل ورکړي حق بسنه کړې وه او په خوشحالي یې خپلې چارې ترسره کولې.

*****

هغه پیښې چې د هېواد برخلیک بدل کړ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه منظم روان و، هغه چارواکي چې له تیر حکومت څخه پر خپلو دندو وو، ډېرو یې خپل مسوولیتونه په نوې بڼه ښه ترسره کول، خو د چا چې به خپل مسلک تر خپل حیثیت لوړ و یا به یې کار کوی یا تیښته؛ ځکه دوی د پیسو یا انډیوالۍ په زور راغلي وو، سهار به پر لس بجې له خپل طبیعت سره سم دفتر ته تلو چې له بده مرغه په نوي سیستم کې دا ډول کار او دا ډول کس د هیچا په کار نه وو. زموږ خو بېخي نه و پکار او د کار کولو خو بېچاره ګانو هیڅ وړتیا نه لرله.

یوه ورځ د اطلاعاتو او کلتور د وزیر استعفالیک زما تر د دفتري مېز پر سر پروت، پوه شوم چې کډې یې تړلې دي، موږ هم ورته د پاته کیدو لپاره هیڅ دلیل نه درلود او نه مو د مکار خپګان په موخه اوښکې تویولای شوای. استعفالیک مې له ولسمشر سره شریک کړ، هغه بې له دې چې ورسره اړیکه ونیسې، پوه شو چې د کار هیله نه لري، سم د لاسه یې پر پاڼه خپل قلم کش کړ او لاسلیک یې وکړ. هغه د نورو په څیر دده د پلویانو فکر هم ونه کړ او نه یې وویل چې یو بل ځای به یې په دنده وګومارم. ورسره سم یې همدا پاڼه له خپل یوه لنډ پیغام سره چې پکې لیکلي یې وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې درته د کار کولو چانس پیدا شو، کار وکړئ او که په دې پوه شوئ چې کار نه شو کولای بیا هغه ځای نورو ته پرېږدئ او دا جرئت وکړئ؛ تر څو د خدمت نه کولو په نشه کې خیانت ونه کړئ. دا دواړه یې سره یو ځای کړل او د مطبوعاتو دفتر ته یې د خپرېدو لپاره وسپارل. ولسمشر د دې وزارت لپاره یو بل کس هم انتخاب کړ او د نوي وزیر په اړه یې هم هېوادوالو ته اعلان وکړ. ژمنه یې وکړه چې هر هغه کس، هغه که چارواکی وي یا یو عادي مامور باید خپل مسوولیتونه په ښه ډول ترسره کړي؛ کنه یو بل وړ کس ته دې خپل ځای پرېږدي. مگر هغه کسان چې یوازې یې چوکۍ نیولې وي، ډېر ژر به یې موږ له خپلو چوکیو څخه لرې کړو.

په دا بله ورځ سهار یې نوی وزیر ارگ ته را وغوښتی، تر مقدماتې خبرو وروسته یې سم دستي ورته وویل: زه کار غواړم، تشریفات نه. تاسو به په خپلو ټولو فعالیتونو کې اول درجه ځای د ټول هېواد د تاریخي اباداتو راټولولو، د تاریخي ځایونو رغولو او د ملي شخصیتونو په نوم د ځایونو نومولو ته ورکوئ. په دویمه درجه کې د هېواد د اقوامو ترمنځ د یو کلتور او یو فرهنگ تر نامه لاندې پرگرامونه ترتیب کړئ چې د شمال او جنوب، لویدیځ او ختیځ ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان د یو او بل په دودونو، کلتورونو او دودیزو ارزښتونو بلد و اوسي. زه به د نورو لارښوونو لپاره ستاسو سره په دویمه لیدنه کې خبرې وکړم. اوس تاسو د خدمت لپاره پوره وخت لرئ، ولاړ سه او ځان ثابت که. مننه ښې چارې.

د هېواد ټول هغه خلک چې پر دندو و، رسمي بڼه یې درلوده، هېڅوک سرپرست نه و؛ ځکه چې د سرپرستي بست بد خاصیت دادی چې هغه کس دا ځای د ځان نه گڼي، ځکه ځومره چې یې توان وي فساد کوي، خو که یو کس په رسمي ډول د هر واړه یا لوی مسلک لپاره غوره کړل شي هغه دا ځای د ځان گڼي، بیا هېڅکله خپل ځای نه چټلوي.

تر دې وروسته په اداري چارو او ستراتیژیکو پلانونو کې د پام وړ بدلونونه رامنځ ته شوه. زموږ هېوادوال له مخکنیو سختو سلسلهیې مراتبو څخه اوس بې غمه و، کارونه یې په ډېره هوسا او شفاف ډول خلاصېدل. موږ دا هر څه جدي تعقیبول، په حقیقت کې د ولس رضایت زموږ د موجودیت لامل و.

ترور، چریکیات، چاودنې او لوی پلان شوي بریدونه تر پخوا ډېر کم سوي و. نظامیان اوس د چارواکو سیاسي بالښتان نه وو چې هر یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د خپل طبیعت پر اساس کله تر سر او کله تر څنګلې لاندې کول. اوس هغوی یوازې یو هدف درلود، هېواد او د هېواد پر وړاندې هره بې نظمي، ناقانوني کړنې او سرکښۍ ورته د دښمن مثال درلود او له منځه یې وړل.

په دې وختونو کې یوه ورځ د هېواد په پلازمېنه کې یوه لویه چاودنه وشوه چې پکې زیات شمېر هېوادوال په شهادت ورسېدل او ګڼ شمېر یې ټپیان شول. کله چې د چاودنې خبر تر ما را ورسېدی، په منډه ولسمشر ته ورغلم، خوله مې د هغه غوږ ته ور نږدې کړه، له چاودنې مې خبر کړ، هغه راووت او نږدې یو بل اطاق ته ولاړو. هلته د تلویزون پر پرده، د نننې برید ژوندي نشرات خپرېدل. د چا لاس پرې شوی، د چا د لاس ګوتې نه وې، د چا غبرګې پښې نه وې او ځینې بیا په سرو وینو کې پورته پورته غورځېدل. د شهیدانو ټوټې، ټوټې او نیم جسدونه د سړک پر منځ پراته ول. په لیدلو یې خداسته ما او ولسمشر ډېر د خجالتۍ احساس وکړ، تاسو به فکر کوئ چې یوازې زما لپاره بده خبره وه، په حقیقت کې ولسمشر تر ما زیات د دا ډول حالت له لیدو څخه د خجالت احساس کوی؛ ځکه هغه په حقیقت کې له خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت سره یو نږدې او ټینګه اړیکه لرله چې هغه د دین، هېواد، خاورې او وینې اړیکه وه.

ولسمشر امر وکړ چې د ملي امنیت رییس، کورنیو چارو وزیر او دفاع وزیر ته زنګ ووهه او عاجل یې همدلته له راتګ څخه خبر کړه. د ملي امنیت رییس ته ووایه چې یوازې ته خپل ځانګړې کاري ډله هم درسره راوله. د هغه د انتظار لپاره مو چې هر څومره شېبې شمارلې خو نه یې اړیکه ټینګه ده او نه پر موږ دا بد وضعیت تیرېدی. موږ هر ډول مسایل د اوس لپاره ودرول. که څه هم د بهرنیانو زنګونه او پوښتنې هم وې، خو اوس مهال زموږ سره یوازې د دښمن پېژندل او د بدل اخیستلو په فکر کې وو. د ولسمشر له ډېرو جدي حرکاتو څخه و ویرېدم چې هسې نه کومه بله بده پېښه رامنځ ته شي، د فکر بدلولو لپاره به مو سترګې د تلویزیون پردې ته ور واړولې هلته لا همهاغه حالت و. ځینې میندو به د خپلو اولادونو د پیداکولو په تلاش کې پر ټولو جسدو ګردې راګرځیدې؛ ځینې به بیا خپل د زړه ټوټې ترلاسه کړې وې، هغوی به یې له دې دوزخي حالت څخه دباندې لېږل. د ځینو ماشومانو ژړاوو او کوکو خو له انسان څخه لار ورکوله، ما به هڅه کوله څو ولسمشر ته لږ قناعت ورکړم؛ خو هغه په بې صبرۍ د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنیت د مسوول استخباراتي معلوماتو ته منتظر و. څو دا په ډاګه کړي چې دا برید چا؟ د څه لپاره؟ او ولې تر سره کړی دی؟ ما ته له کوره زنګ راغلی، اوکې مې کړ یوازې مې دومره ورته وویل چې مور ښه یو بیا حال سره نیسو، ټلیفون مې کاټ کړ. ولسمشر ته زما دې خبرې لکه چې هېڅ خوند ورنه کړ، ډېر بد یې راته وکتل ویې ویل:

"مور ته خیر دی". له دې خبرې دې هدف څه دی؟ که دې هدف زه او ته یو؛ زه خو هېڅ نه یم ښه او که دې هدف ځان وي نو یوازې به دې ورته د ځان په اړه ویل زما نه. زمور غم زمور د ځان نه دی، زمور غم او درد د ملت له غم او درد سره نېغه اړیکه لري. دا چې ملت په تکلیف وي زه هېڅکله ځان ډاډمن او ښه نه احساسوم.

خبرې یې بس کړې، زه یې هم ډېر و شرمولم. د هغه خبرې پر ځای وې، ما باید داسې هیڅ نه وای ویلي، په همدې وخت کې د مسوولینو د را رسېدو په اړه خبر راکړل شو، ما ورته هدایت وکړ چې خاص ځای ته یې رهنمایي کړئ. مور تر دوی مخکې هلته ورسېدو، دا د ځمکې په تل کې د مهمو مسایلو لپاره ځانګړې خونه وه. دغه ځای ته له ولسمشر، کورنیو چارو وزیر، ملي دفاع وزیر او د ملي امنیت له رییس پرته بل هېڅوک نه شوای دننه کېدای. دلته یوازې د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاصو ترمنځ د ولسمشر په مشري هغه پلانونه جوړېدل کوم چې د هېواد د حيثيت، عزت او په بهرنيو هېوادونو کې د عملياتو هدف وي. دا چې ولسمشر ته زه ډېر نږدې وم او ډېرې چارې بايد زه وڅارم يا يې په اړه راپور چمتو کړم؛ نو زه يې هم له ځان سره بوتلم. موږ پر خپلو ځايو ناست وو، چې په يوه دقيقه کې يوازې درې تنه مسوولين را ننوتل.

تر دې وخته لا هم د پيښې مسووليت چا نه و منلی، په اصل کې د دوی مسووليت منلو او نه منلو موږ ته کوم توپير نه درلود؛ ځکه زما هغه ورځ سترګو ته ودرېده په کومه ورځ چې د ملي امنيت لوی رييس ته دنده سپارل کېده. له بېلابېلو اړخونو ورباندې خبرې وشوې پټ معلومات هم دقيقه پر دقيقه رارسېدل موږ هغه څېړل. بمي بريد په داسې ځای کې رامنځته شوی وو چې هلته د هند هېواد سفارت نږدې و. دا د ګاونډي او زبر ځواکو هېوادونو تاريخي کار پاته شوی و چې دوی به خپل دښمنان هم زموږ په هېواد کې ويرول.

تر ټولو پلټنو وروسته دا ښکاره شوه چې په دې بريد کې د پاکستان د سفارت لاس و، خو پر دې مهال د دې سفارت څخه زموږ د ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګې له ځينو غړو سره هم اړيکه نيول شوې وه، دوی هڅه کوله چې نورو ته دا وښيي څه چې دوی غواړي هغه به ترسره کېږي.

د غچ اخيستلو لپاره يو پټ پلان جوړ شو چې پلان ته(د سړي زوی ترې جوړکه) نوم ورکول شو او د ولسمشر له لوري ورته وويل شوه چې په دوه ساعت کې يې ځواب غواړم.

نور دا مسله پای ته ورسيده دا چې د ولسمشر له راتګ وروسته په لومړي ځل يوه غټه بمي چاودنه رامنځ ته شوې وه؛ اړتيا وه چې له رسنيو سره مخامخ خبرې وکړو. ولسمشر بايد خپل ملت ته ډاډ ورکړي خو ولسمشر تر دوه ساعتونو پورې هر څه و ځنډول، څو چې غچ يې نه وي اخيستی هغه تر هغو هېڅ هم نه اورې نه يې مني او نه يې ترسره کوي.

وخت نه تيرېده ځکه دا د طبيعت اصل دی چې ښه وختونه ډېر ژر تيرېږي، ولې بد وخت هېڅ نه تيرېږي. هر ډول چې و، دوه ساعتونه وروسته د رسنيو سر ټکي(په پاکستان کې په پرلپسې ډول درې بمي چاودنې ترسره شوې، دا په داسي حال کې ترسره وشوې، چې لا هم په افغانستان کې د يو بمي بريد لوګي په اسمان خانه کې ښکارېدل.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راپور پر اساس په پاکستان کې هغه عملیات چې(د سړي زوی ترې جوړ که) تر نامه لاندې را پیل شوي و، بریالي ترسره شوه. په پاکستان کې دا بریدونه د هند، امریکا او انگلستان له سفارتونو سره او د لومړي وزیر له کور سره شوي وو چې تر تلفاتو یې هلته عمومي ذهنیت او نړیوال باور ډیر زیانمن کړی و.

تر دې وروسته ولسمشر خبري کنفرانس ته اماده شو او موږ له خپل ټول ټیم سره یو ځای د رسنیو په مخکې و درېدو چې ولسمشر خپله وینا په ډېرو لنډو ټکو کې داسې وکړه:

ټولو هېوادوالو ته اسلام علیکم ورحمه و برکاته وړاندې کوم.

زه د هېواد په زړه کې د ننني بمي چاودنې په اړه ټولو شهیدانو ته له الله(ج)څخه جنت الفردوس غواړم او ټولو ټپیانو ته بشپړه روغتیا او د دوی کورنیو ته د زړه صبر غواړم. زه له ټول ملته بښنه غواړم چې زما له راتگه وروسته د لومړي ځل لپاره داسې یو غټه چاودنه رامنځ ته کېږي. د دې عاملونو ته به سزا ورکړل شي او تاسو ته ډاډ درکوم چې موږ به نور هم تر دې زیات د خپل ملت د امنیت لپاره اړین گامونه واخلو. له تاسو ټولو هیله لرم چې د تیر په څیر د خپلو ملي، امنیتي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاعي ځواکونو ترځنګ ودرېږئ. موږ په ټوله نړۍ کې د ناامنۍ پر خلاف یوو، هر ځای چې بشریت وي هلته دې امنیت وي، د دې نړۍ هېڅ هېواد یا ډله دې هڅه نه کوي چې له ځانونو څخه خدایان جوړ کړي او د اعزائیل(ع) چارې مخته یوسي. موږ د دې نړۍ یوه برخه یوو، که موږ په ناامنۍ کې ژوند کوو، نړۍ دې هم دا واوري چې په لمبو به یې تاسو سوځېږئ، ډېره زیاته مننه.

ولسمشر لنډې خبرې وکړې، یو شي ته یې زما فکر شو هغه په خپلو خبرو کې هېڅ د (په کلکو ټکو یې غندم) الفاظ استعمال نه کړل. ځکه چې ولسمشر د عمل انسان و، بل د ملت لپاره دا یوه ډېره بې مانا او زیاته کارېدونکې کلیمه وه.

بیرته مو په کار پیل وکړ، خو په دې یوازې موږ پوهېدو چې داسې یو کار مو کړی، چې دا څو لسیزې تر چا نه و کړی او باوري و چې پایله به یې مثبت وي.

ولسمشر د یو ځانګړي فرمان پر اساس د ټولو شهیدانو او ټپیانو د کورنیو لپاره نغدي مرسته ووېشله او د دوی د سرپرستانو لپاره یې کاري زمینه برابره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر د پیغام په واسطه د ملي امنیت د لوی رییس دا فعالیت ډېر ستایه او هغه ته یې هر اړخیز ډاډ ورکړ.

یوه بده ورځ وه چې خدای تیره کړه. موږ پر نویو پلانونو کار کوی، څو ورځې وروسته زه او ولسمشر یوازې سره ناست و چې ماته یې وویل: د مالیې د وزیر د فساد دوسیه او د لویې څارنوالۍ د رییس اړوند اسناد بشپړ شوي دي. یو ځانګړی فرمان اماده که ورسره سم د دوی ټول جرمونه او شواهد یو ځای کړه، د دوی ټوله شتمني بنده کړئ، له خپل هېواد سره د ترسره شوي خیانت په جرم د دوی تابیعت هم ترې اخیستل کېږي او جلا وطنه کېږي به.

ما همداسې یو فرمان عاجل جوړ کړ چې ولسمشر لاسلیک کړ، دا فرمان مې د رسنیو مرکز ته ولېږی، چې ورسره سم په هېواد کې غوغا جوړه شوه، لوی اکثریت هېوادپالو د دې پرېکړې هرکلی ووایو؛ مګر یو کوچني ړانده اکثریت یې د خپلو ګټو په خاطر مخالفت وکړ. په اصل کې اوس د دوی هېڅ ډول مخالفت د ولسمشر پریکړه نه شوای بدلولای. دا اوس یو دود و زموږ د هېوادوالو چې د ډلو ډلبازیو پر اساس به یې په تیرو وختونو کې یا په حاکم پرېکړه بدله کړه او یا به یې د هغوی ډلې ته بل ځای زیاته ونډه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د دې هر څه وخت تير و، د لويې څارنوالۍ او ماليې وزارت مسوولين له دندو ليري شوه، پر ځای يې نوي کسان معرفي شوه. د لويې څارنوالۍ د رياست لپاره يې شيخ صاحب چې د شريعت پر اساس به يې پرېکړې کولې؛ يو مخلص انسان و، دا و گومارل شو. ټولو کارکوونکو ته يې لوړ معاشات وټاکل شوه، تر څو د پرېکړو صادرولو پر وخت د پيسو تر زور لاندې را نه شي. له دوی دواړو مفسدينو څخه يې تابيعت واخيستل شو او دواړه لوړ پوړي چارواکي اوس جلاوطنه ول. دوی نه په خپل او نه په بل هېواد کې له هيڅ ډول حقوقو څخه برخمن و. د دوی کورنيو ته هېڅ د مجرم په سترگه نه دې کتل شوي ځکه چې دا د الله(ج) امر هم دی، خو په دې فساد کې ورسره گډ په ټيټه کچه چې هر څومره کسان وو ټول د څارنوالۍ په امر په لس کاله بند محکوم شول.

تر دې وروسته د ماليې وزارت د عوايدو نتيجه ورځ تر بلې مخ پر زياتيدو وه. له سوداگرو سره يې ښه همغږي درلوده، پر گمرکونو يې ډېر څار کوی، په محاکمو کې د خلکو ستونزو او جنجالونو ته پر وخت رسيده‌گي کيده. دلته پر وخت ټولې ستونزې د اسلامي شريعت او حنيفي فقې پر اساس حل کيدلې چې په هېواد کې ورسره سم د ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حکومت تر منځ د بې باورۍ فضا نوره هم پر ختمیدو وه. پر صادراتو لږ مالیه او پر وارداتو زیاتې مالیې په هېواد کې خلک د خپلو توکو استعمال ته اړ کړل. د صنعت کارونه ورځ تر بلې پر ښه کیدو و، پر عصري توکو هغه چې یوازې به مالداره خلکو استعمالول مالیه لږ لوړه وه، بهرني توکو ډېر لږ بازار درلود. په ملي عوایدو کې بې مثاله زیاتوالی د دې سبب شو چې ورسره سم د پرمختیایي چارو لپاره زیاته بودیجه هم تصویب شوه. سړکونه، لویې لارې، د ریل پټلۍ، د برق پایې او نور اړین کارونه په ډېر لنډ وخت کې ترسره شول. زراعت پرمختګ وکړ، د بزګرانو توکو ښه بازار درلود. دوی اوس د خپلې سترېیا او خولو تویولو ثمره لیدله، هر څه تر پخوا ښه منظم شوي و، د ملت او حکومت تر منځ فاصله له منځ تللې وه، هغه ډلې چې پخوا به یې پر حکومت نیوکه کوله، نن نه مالومیدل څکه چې دوی دا زړه ته تیره کړې وه چې زموږ شورشونه، بغارې او په واک کې ونډه ولسمشر ته هېڅ مانا نه لري؛ ټول له موږ سره یو ځای شوي وو. کله کله که به یې نیکه مشوره راکړه؛ ښه تر ښه، کنه بد قدم به یې ضرور بې تابیعته او بې حقه کوي، دا دوی منلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاکستان کې تر ناامني او ګډوډيو وروسته هېواد ته د کډوالو شمېر ورځ تر بلې ډېرېدی. د دوی لپاره اوس تر ټولو ناامنه ځای پاکستان و، نه افغانستان. مورې يې د راتګ لپاره ډېر زړه ښه و چې هېوادوال خپل وطن ته راځي او د راتګ لپاره مو د يوې لويې او ښې پاليسي له مخې کور، دنده او ځمکه ورکول.

دا ورځې تيرې شوې، حالات عادي شو، د ولسمشر ليدنو، ځانګړو فرمانونو او ټولنيزو چارو منظم دوام درلود. زه او ولسمشر به ډېر وخت سره يو ځای وو، مګر ما هېڅکله د ولسمشر اولادونه په ارګ کې نه وليدل، هر څومره هڅه به مې وکړه کله کله به يې ببخي پر زېږيدو شکمن شوم، ځکه دا زموږ د هېوادوالو عادت دی چې پر کوم ځای حاکميت تر لاسه کړي له خپل ځان سره سره د خپلې کورنۍ د ماشومانو واکمنې هم پر نورو چلوي، هغوی ته ښې دندې او امتيازات ورکوي. مګر د ولسمشر مېرمن او اولادونه ما هېڅ ونه ليدل، کله به مې له ځان سره وويل چې شايد لکه د پخوانيو مشرانو غوندې به يې کوم بل هېواد ته يې لېږلي وي.

يوه ورځ د مازيګر تر لمانځه وروسته نرم باران پيل شو، ما او ولسمشر د ارګ دننه د شنو چمنونو تر منځ په واړه پيادرو کې قدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



واهه، د باران څاڅکی به د چمن پر نازکو وښو ورغړېدی؛ ځلا به یې د لمر وړانگو ته له ورایه ښکارېده. دغسې طبیعي خوږ ماحول ښه ذهني ارامي او عصبي هوسایي رامنځته کوله. خو چې باران لږ تیز شو، ځنې راغلو او خپل اطاق دننه شوو. د هېندارې مخ ته پر چوکیو کېناستلو چې دلته د بل چا د راتگ اجازه نه وه. ولسمشر سگریټ بل کړ، فکر مې وکړ، چې باران هم لکه چې د ولسمشر مینه د هغه سترگو ته راوسته، مړ دود به یې تر خوله را ووتی، موږ دواړه چُپ وو، هڅه مې وکړه چې دا خاموشي ماته کړم؛ نو مې پوښتنه ترې وکړه:

رییس صیب ستاسو اولادونه می هېڅ و نه لیدل، دوی چېرته دي؟

ولسمشر: هغوی په خپل کور کې دي.

- هلته ټول وخت څه کوي؟ ولې دوی د دباندې وتلو اجازه نه لري؟ ولې یې دلته نه راولئ؟

- هغوی دلته هېڅ حق نه لري، دا د دوی د پلار شتمني نه ده، زه یې یوازې سمبالونکی یم، خاوند یې نه یم چې زه یې په خپلو اولادونو، مېرمن او خپلوانو ووېشم، دا به موږ راتلونکي نسل ته ښه جوړ و، پالنه به یې کوو، هغوی ته به یو جوړ هېواد او ښه مفکوره پرېږدو. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن زما اولادونه یا د کورنۍ غړي راشي هغوی به ډېر ژر د واک او ځواک مینه پیداکړي، بیا به موږ تیرو وختونو ته ولاړ شوو چې زوی به پلار، پلار به زوی یا ورور له ورور څخه د واک لپاره سترګې ایستلې. د خپلو اولادونو لپاره مې یو ښه تکړه استاد ګومارلی؛ د ورځې د درس ترڅنګ هلته خپلې لوبې هم کوي، هغوی ډېر خوشحاله دي، یوه ورځ به ورشو له نږدې به یې ووینو.

شپې او ورځې تیریدې، حالات عادي لور ته روان و، زموږ هېوادوالو د امن او مینې په فضا کې ژوند درلود، خو موږ لا هم خپل مسوولیت مکمل نه ګڼی.

ولسمشر د یو فرمان له مخې دوې پرېکړې وکړې چې ما یې له مقدمې پرته نور ټول فرمان دلته راخېستی دی:

په افغانستان کې د ټولو ملي او سیمه‌یزې، چاپي، ویډیویي، ټولنیزو شبکو او راډیویي رسنیو مسوولینو ته سر له ننه د همدې فرمان پر اساس د خپل فعالیت په ترسره کولو کې د هېواد د ملي مصلحت په پام کې نیولو، د قانون د اصولو د تطبیقولو او ټولنیز نظم ساتلو ترڅنګ د حاکم حکومت په وړاندې له هر ډول بې بنسټه، بې اجازې او شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حریم ماتولو څخه ډډه وکړي. موږ به ستاسو هر ډول حقوقو ته په درنه سترګه وګورو؛ هغه وخت چې تاسو دې هېواد او ملي یووالي ته په درنه سترګه وګورئ. هڅه مه کوئ چې د ګوندونو، چارواکو او نورو ډلو تر فشار لاندې راشئ او عقدوي مسایلو ته لمن ووهئ. تاسو چې هر څه خپروئ په پوره پام سره باید د هېواد له هېڅ قانون، هېڅ دود او کلتور سره په ټکر کې نه وي. تاسو ټول باید په خپلو خپرونو کې په مطلق ډول مثبت بدلون راوړئ؛ د پردیو کلتورونو لپاره په خپلو پروګرامونو سره مو هغوی ته تبلیغ نور ودورئ او اجازه نه لرئ چې هر هغه کړنه ترسره کړئ چې ورڅخه بې حیایي، پردی کلتور او فساد زیږي؛ مننه.

د ټولو امنیتي، دفاعي او قضایي مرکزونو او ټولو چارواکو ته خبر ورکول کیږي چې تر څلروېشتو ساعتونو وروسته به ستاسو له ټولو مرکزونو، کورونو، دفترونو او کارځایونو څخه د یو ځانګړې ډلې په واسطه امنیتي موانع ټولې شي. هغه که لویه ښارنوالي وي، که حوزه یا قومنداني وي او که د چارواکي کور وي، موږ ته توپیر نه کوي چې تر کومې کچې چارواکی دی. زموږ کار له امنیتي موانعو سره دی چې عمومي لارې، لوی سړکونه او د ښار ښکلا یې له منځه وړې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بشپړ ډول به تړولې شي. تاسو اړتیا لرئ چې له خپل ملت سره په ښه چلند کړلو خپل ځانونه وساتئ، هڅه مه کوئ چې پر خپل ملت تر ظلم وروسته به تر امنیتي موانعو شاته پټ شئ. موږ به هغه وخت خوندي او ډاډمن یوو چې زموږ خلک او ولس په امن کې وي. په درنښت.

د دې فرمان تر صادرولو وروسته لا یو لږ برخه د جاهلانو چې اوس یې هم د چارواکو تر سایه لاندې ژوند کوی، دوی د چارواکو په لارښوونه د ولسمشر د دې فرمان ډېر مخالفت وکړ، دوی دا یو دیکتاتورانه فرمان وګڼی. په خبره یې چې اوس هم امنیت نشته او د ناامني ویره ده، حال داسې چې د امنیت د ګډوډولو او جنایي پیښې تړولې، دوی خپله کولې. دوی په ناامني کې ګټه لیده. دوی وو چې ظلم به یې کاوه او د نن هر مظلوم به سبا ته د دوی له امله ظالم جوړ شو او په هر چا به یې خولې لګولې. خو ولسمشر پوهېده چې لوستی او پوه ملت به یې ځواب ورکوي چې یو ساعت پر تیرېدو و، دې پرېکړې په میلونونو پلویان ولرل او پوره هرکلی یې وکړ. د دې چارواکو او امنیت په ساتنه کې یې خپل تعهد وړاندې کړ، چې وخت پر پوره کیدو شو د امنیتي موانعو د لیرې کیدو لړۍ هم ورسره شروع شوه چې په ډېر لنډ وخت کې دا چاره په بشپړ ډول سره د هېواد په ټولو برخو کې تطبیق شوه. ولسي خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پرېکړې ډېر تود هرکلی وکړ. هغوی خپلو چارو ته د رسېدو په لاره کې له هر ډول خنډ او ځنډ څخه اوس په امن کې و، همدارنګه ورسره د ښار ښکلا هم مخ په پر ډېرېدو وه.

د هېواد ټول پوځ تقریباً پنځه لکه ته رسیده چې دا ټول مسلکي روزل شوي، د هېواد په جغرافیه خبر، د دښمن په پېژندلو بلد، له هر ډول نشې څخه خلاص وو. دوی د خپلو تجهیزاتو ساتنه لکه د خپل کور داسې کوله، دوی په هېڅ سیاسي ډلې یا قوم پورې نه و تړلي، منظم لباس، ښې وسلې او لوړ معاشات د دې لامل شوي و چې د ولسمشر هر امر ته به یې په ثانیو کې د عمل ښه ورکوله. هېڅ چارواکي ته یې د ملي مسایلو د مخالفت یا جاسوسي کولو پر وخت انتظار نه کاوه، د هر ظالم پر وړاندې به لکه غر داسې ولاړ و. د هېواد ټوله جغرافیه یې تر کنټرول لاندې وه، تر ټولو ښه لا دا وه چې د هر قوم دود او کلتور پکې ساتل سوی و او

د دوی پر روزنه لا هم کار روان و. استخباراتي مسوولینو اوس د ټولې اسیا په کچه استخباراتي کړۍ ترلاسه کړې وې، دوی د دې ټولې سیمې څارنه کوله. موږ اوس تر ګاونډیو هېوادونو څو قدمه وړاندې روان وو، تر ټولو ښه خبره دا وه چې ټول هېوادوال پر دندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخت وو. د ښاروالانو خو سم دم له یو بل سره د خپلو سیمو په ښایست کې سیالۍ وې؛ ګڼه یې دا وه چې د یو منظم او ښایسته چاپېرال خاوندان شوي وو. د بهرنیو سیلانیانو په راتګ کې هم د پام وړ پرمختګ شوی و، مطلب د ولس خوښي، مو خپله بللې وه؛ بس خلاص!

د ولسمشر ځینې ځانګړې کارونه لا پاتې و، ځو له خپل ملت سره کړې وعدې پوره کړي. یوه ورځ مو د سفارتونو له مسوولینو سره د لیدنې په موخه خبر ولېږه. سهار نهه بجې وې چې موږ لکه د پخوا په څیر په خپلو لومړنیو چارو بوخت و، د غونډې پیل ته وخت نږدې کیده، ما او ولسمشر یو د بل تر څنګ روان وو، په ارګ کې دننه اوس د پخوا په څیر د بې ځایه موټرونو رش و کش نه و. ساتونکي کم شوي وو، د هېواد درې رنګه بیرغ د ارګ پر عمومي دروازه لوړ رپیدی چې له هر ترپ سره یې د هېواد د دښمنانو زړونه چاودېدل.

سفیران ارګ ته را ورسیدل، تشریفاتي مراسیم مو لکه د نورې دنیا غونډې ښېخي عالي برابر کړي و. وروسته هغه ترتیب شوي تالار ته ولاړوو چې دوی به له ولسمشر سره لیدنه پکې کوله. هر سفیر پر خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې څوکۍ کېښاست. ولسمشر د دوی پر وړاندې د مېز يوه سر ته پر يوه رنګينه څوکۍ کېناستی او غونډه پيل شوه.

سفيرانو پر خپل وار د ولسمشر له روانو فعاليتونو خوښي و ښودله او په دې لار کې يې د خپلو هېوادونو په استازيتوب د همکارۍ ټينګ وټکوی. د دوی تر خبرو وروسته ولسمشر خپلې خبرې پيل کړې چې تر مقدمې او د يو بل سره د همکارۍ تر خبرو وروسته يې د دوی په هېوادونو کې د افغانانو د حقوقو د خونديتوب په اړه هم خبرې وکړې. له دوی يې و غوښتل چې تاسو بايد موږ ته د ټکنالوژي د سمباليدو سکالرشيپونه راکړئ او تر څنګ يې يو شمېر ځوانانو ته د لوړو زده کړو په برخه کې يوازې په طبي او انجينري څانګه کې د زده کړو زمينه برابره کړئ. غواړم چې ستاسو څخه د هر يوه هېواد هر کس چې راځي نو زموږ ټول اصول به مني. راتګ به يې قانوني وي او ټول هغه مراحل به ترسره کوي کوم چې يې ستاسو هېواد ته پر در تګ زموږ هېوادوال ترسره کوي. بې له پاسپورټه او ويزې هر راتلونکی بهرنی کس زموږ په سترګو کې يو دښمن دی؛ بس خلاص. د سوداګري په برخه کې موږ تاسو ته له خپله اړخه تر وروستي حده د توکو په قيمتونو او د لېږد په پروسه کې هوسايي رامنځته کوو؛ تاسو زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجارتي توکو او وطني تولید د لېږد لپاره په خپلو هېوادونو کې لارې چارې اسانه او ساده کړئ، څو زموږ وطني تولید ته په نړیوال بازار کې بازارموندنه وشي. تاسو نه شئ کولای چې بې له سفارتونو چې هلته به هم یوازې ملي سوداګر او پانګه‌وال درځي؛ نور هېچاته د درتګ اجازه ور نه کړئ. په سفارتونو کې له هېڅ سیاسي فعال، مدني فعال، د رسنیو له استازیو او چارواکو سره تاسو نه شئ لیدلای؛ ځکه چې ستاسو له دوی سره هېڅ کار نشته. زه نه غواړم چې له دې مسلې څخه بیا خبر سم چې پلانکی چارواکی، سیاستمدار، فعال او یا د رسنیو کوم استازی له تاسو سره د یوه هېواد په سفارت کې ووینم، زه به هغوی بیا د خپل هېواد د جاسوس په تور جلا وطنه کړم. تاسو دلته باید یوازې له موږ سره د هر ډول چارو، ستونزو، وړاندیزونو، غوښتنو او لاسته راوړنو اړوند خبرې وکړئ نه، له افرادو سره. زه به نور اجازه ور نه کړم چې هر هېواد دلته پر پرمختیایي برخه مصارف کوي باید هر څه د حکومت مالیې وزارت ته وسپاري؛ هغه به یې اړتیا او وړتیا ته په کتو سره خپلو ملي شرکتونو ته سپاري او څارنه به یې په ګډه کوو. موږ له دې څخه کلونه کلونه زیان لیدلی، هر ډول بهرنۍ مرستې یا پرمختیایي پروژې چې ترسره شوې، یوازې بڼه یې پاتې هېڅ کیفیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې موږ ته نه دی پاته شوی. د خپل ملت او هېواد له اړخه زه تاسو ته د هر ډول همکارې لاس درکوم، هیله لرم چې موږ او تاسو په ګډه د خپلو هېوادونو نړیوال حیثیت وساتو او د یو بل سره ښه همکاري ولرو، مننه.

غونډه همدلته ته پای ته ورسیده، د ځینو سفیرانو شونډې را ځړیدلې وې، موږ پوهیدو چې ولې او پر څه؟ د غرمې د ډوډۍ وخت وو چې د ډوډۍ لپاره یو مېز اماده شوی وو، ولسمشر ټولو ته د ډوډۍ خوړلو بلنه ورکړه. ټول یو ځای راغلو ډول ډول خواړه تیار وو، څو دوی دا فکر و نه کړي چې موږ د دوی مرستې ته ناست یوو اوس موږ له هره اړخه پر ښه کیدو وو، مازي یې لکه مرغۍ مښوکې سره ووهلې، نور یې بس کړه. له خوړنځایه را وواتو دوی ته مو رخصت ورکړ د غونډې اړوند مو ټول مسایل د ارګ له پاڼې خپاره کړل چې نن ورځ پرې هېوادوالو د خوښۍ په خاطر ټوله ورځ لیکنې وکړې. په نوره نړۍ کې د افغانستان نوم ورځ تر بلې ډېر اوربدل کیدی، ټول ملت ورځ تر بلې له اقتصادي اړخه مخ پر ښه کیدو وو، د کار زمینه او لوړو معاشاتو دوی پر ځان متکي کړي وو، د کډوالو راتګ اوس ترپخوا ډېر زیات شوی وو. د ډیورنډ لاین د هغې غاړې څخه د ورځې زیات شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ دې غاړې ته را اوښتې، د صنعت له پراختیا سره په هېواد کې ټوله بشري قوه په کار گومارل شوې وه. کروندگرو اوس تر پخوا زیات خپلو زراعتي چارو ته پاملرنه کوله، دوی یې اوس له ښه قیمتونو څخه خوند اخیستی، هر څومره کډوال چې به هېواد ته راتلو د کار کمی ورته نه وو، د دوی ژوند ورځ تر بلې په ښه کیدو وو، دوی بیا له نورو سره حال اخیستی او د خپل ښه حالت څخه به یې خبرول څکه دا لړۍ ورځ تر بلې په ډېرېدو وه.

له ولایتونو څخه په ورځني ډول د راپور تر څنگ په هره اوونۍ کې د یو مشخص ولایت، د مرکز، د هغه ولایت د ټولو ولسوالیو او د سیمې د مشرانو څخه یو پلاوی په اوونیز ډول سره ارگ ته راتلی او د خپل ولایت، ولسوالیو او کلیو ستونزې به یې له ولسمشر سره شریکولې. هغوی به د پرمختیایي پروژو، سیاسي گډوډیو، قومي اختلافاتو او د ولایت له ځینو چارواکو شکایتونه لرل؛ موږ به دا ټول شکایتونه د یو مسوول کس له لارې څېړل. د دوی ستونزې پر ځای وې، دوی نه و ملامت، کلونه کلونه دا ډول حالات پر هره سیمه تیر شوي وو، په ډېر لنډ وخت کې یې له منځ وړل څه ناشه ستونزمن وو. د وزارتونو، معینیتونو، څارنوالیو او ټولو نړیوالو چارو ترڅنگ همدې مسایلو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو په اولو وختونو کې ډېر وخت ورکاوه؛ ځکه چې موږ په دې باور درلود چې اول باید ملي بنه د هېواد سمه کړو، وروسته بهرنیو مسایلو ته اوږه ورکړو. له نېکمرغه باید ووایم چې په دې وخت کې موږ دا ستونزې، خپل‌منځي اختلافات، د واک پر سر شخړې او یو بل نه منل، ناانډوله پرمختګ او ډېرې هغه ستونزې له منځه یووړې چې خلک ترې په تکلیف وو. موږ اوس د هېواد په هره غرنۍ او هواره دښته کې خپل خدمات ترسره کول، موږ د ټول هېواد پر هره لوېشته خاوره واکمن وو، خلکو ته مو په سیاسي چارو کې د ګډون حق ورکاوه، پر ټولو قضایي برخو او بستونو مو د دین عالمان و ګومارل؛ څو ټولې پرېکړې د اسلامي شریعت او حنفي فقهې پر اساس وکړي. د الله(ج) حدود جاري کړي او په هغو چارو کې چې د وخت حاکم ته واک ورکړل شوی له قیاس او اجماع څخه وروسته مو د یو اصلاح شوي قانون پر اساس د پرېکړو کولو حق ورکړی وو، د الله(ج) دین او احکام پر ټوله جغرافیه حاکم و، له زور او تحقیر پرته د یو منځلارې پالیسۍ پر اساس اوس ټول ملت د یو اسلامي قانون او عادل نظام تر سیوري لاندې ژوند کاوه. د حکومت او خلکو ترمنځ هېڅ فاصله نه وه، عدالت، ټولنیز نظم او برابري اوس ټولې ستونزې او مخالفتونه له منځه وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. چا چې د دې باوجود هم سرکښي، مخالفت یا پاڅون هڅه کوله پر خپل ځای مو ورته اول قناعت ورکاوه؛ که به یې حق خوړل شوی و، حق مو ورکاوه، که به یې وروسته تر دې هم د خپل نظام پر وړاندې د پاڅون یا بغاوت هڅه کوله د زندان د تورو تمبو شاته مو غورځول.

که د کابل او یا زابل و، ټول مو یو روح او یو تن وو. که د شمال و، که د جنوب و؛ موږ ته تر بل هر چا ګران او محبوب وو.

هره ورځ به هېوادوالو د نوي فرمان لپاره انتظار کاوه، دوی پوهیدو چې واکمن د دوی پخیر پرېکړې کوي، ځکه به یې بې له کوم تشویشه ورته په تمه وو. یوه ورځ ولسمشر د علماوو د جرګې تر نامه لاندې د ناستې یادونه وکړه؛ په سبا مې وزیران، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ټول غړي او د هېواد مشهور او پوه عالمان راوغوښتل چې دوی به حکومت ته د شرعي پرېکړو تر څنګ د خپلو تجربو پر اساس نظریات ورکوي. دوی له حکومت سره د حاکمیت او مشروعیت په برخه کې ډېره همکاري کوله. د هر ښار، بازار او کلي په مسجدونو کې به د حاکم نظام څخه د حمایت په موخه پراخ تبلیغات ترسره کیدل، مهراب په اسلام او اسلامي نظام کې یو ځانګړی ځای او مقام لري، ولسي جرګې ته د خلکو استازي چې د ولس په رایو تر دې ځایه راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو تر ډېره پکې ځوانان او د عصري علومو استادان وو او تر څنګ یې د هر ولایت او ولسوالیو په کچه قومي مشران را وغوښتل او د یو ځانګړې ناستې په اړه مو خبر ورکړ.

هغه وخت به ډېرو لوړ پوړو او ټیټ پوړو چارواکو زما څخه د دې لویې غونډې د جوړېدو علت پوښتی، زه پوهیدم خو بیا مې هم دوی ته هېڅ نه ویل، دوی ټول مې همداسې په تشویشي حالت کې پرېښودل، ځکه چې زما ښه یاد دي چې ملت به یې د ورځې لس ځله تر غاړې نیوی او زبیښی به یې، دوی له زړې بشري قوې څخه و. همدا د پنجشنبې ورځ تیره شوه، ماښام زه او ولسمشر یو ځای سره ناست وو چې ولسمشر زما هغه د لومړیو ورځو وعده را په زړه کړه او یادونه یې وکړه چې سبا به تر غونډې وروسته ښار ته په منظره وځي. ما هم لکه څنګه چې مې ورسره وعده کړې وه ومې منله او پر سبا ورځ مو پرېکړه وکړه.

د سبا ورځې د غونډې لپاره مو د لویې جرګې تالار وټاکی او ټولو ته مو د ځای په اړه خبر ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار نهه بجې پر پوره کیدو وې چې ما او ولسمشر په یو موټر کې دواړو حرکت وکړ؛ یو راسره د ساتونکو موټر روان و، ولسمشر سګریټ ته لیټر وواهه او توره لوخړه ترې و ایسته، ما ته یې وویل:

نن مې د ملت د ډیرو لویو ستونزو وروستۍ کډه ور باروم، باید چې یو یو سګریټ خو ولګوم.

ما هم ورته وویل: حق یې لرئ رییس صیب.

خپلې مینې ته یې زنګ ووهی، تر لنډو خبرو وروسته یې د ماښامنې دیدن په اړه ورته وویل او د اوسنۍ غونډې له خپرېدلو یې خبره کړه چې تاسو یې په ژوندۍ بڼه په تلویزون کې وګورئ. ټلیفون یې کاټ کړ موږ هم د لویې جرګې تالار ته را ورسیدو، داسې ښکارېدل لکه هېڅوک چې نه وي راغلي. ځکه ټول د ولسمشر له اصولو خبر وو، هېچا هم لس پنځلس موټره له ځان سره نه وو راوستلي، نه یې کوڅه ډبو او بداخلاقو ته د محافظه کارو په حیث تر سر دسملونه ورتاو کړي وو، ټول پر ټاکلي وخت په تالار کې دننه پر خپلو ځایو ناست وو، د ولایتونو خلک هم سهار اتهه بجې را رسیدلي وو. روغو سړکونه اوس ټولو ته اسانتیا برابره کړې وه. اړتیا نه وه چې بېځایه مصارف

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ کړي وای یا مو هم دوی په هوایي ټکټ تر تالاره راوستلي وای؛ نه هم موږ کمپاین کاوه چې په پاکټو کې ورته پیسې وویشو. لویې لارې مو هم نه وې بندي کړې چې خلکو ته تکلیف ورکړو.

تالار ته دننه ورغلو زموږ له لیدو سره سم ټول پر خپلو ځایو ودریدل او دا ناره یې وکړه چې ژوندی دې وي د ملت بابا، ژوندی دې وي د ملت بابا!

ولسمشر دواړه لاسونه د مننې په پار پورته کړل او دوی ټول پر خپلو ځایو کېناستل. غونډه ډیره ژر پیل شوه، تر تلاوت ویلو وروسته، لومړی د ولایتونو مسوولینو ته د خپلو ستونزو او غوښتنو په اړه د خبرو وخت ورکړل شو، له هر ولایت څخه یو تن سپینږیری او د دوی ټولو په استازولي یې په ولسي جرګې کې یو استازی د ځوانانو او د علماو له جرګې څخه یو عالم یې خپلې خبرې وکړې. ویناوالو ته یې د وخت د کمښت له امله د تشریفاتې ویناوو وخت نه و ورکړی، دا بیانونه د غرمې تر ډوډۍ ټول خلاص شوه، څنګه چې د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه وار د ولسمشر وو چې د ټولو ویناوو په اړه سپیناوی ورکړي او خپلې ځیني نوې پرېکړې په دوی واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر د دریځ تر سره په چکچکو بدرګه شو او خپله وینا یې په دې ډول پیل کړه چې ما کټ مټ تر ډېره د هغه خبرې را اخیستې دي:

اسلام علیکم ورحمه الله و برکاته!

زما ګران او محبوب ملته! له کلونو څخه ستړی او ستومان ملته! د سولې، ابادۍ او ښه ژوند په ارمان ملته!

زه پوهېږم چې د کلونو کلونو د جګړې زورواکي، نابرابري، تعصباتو، خپلمنځي شخړو، ناپوهۍ، بې کارۍ، نړیوال حیثیت او ټولنیز ژوند برابرولو لپاره شاید تر دې هم زیات وخت ته اړتیا وي، خو څه چې ما کړې ستاسو د تکړه اولادونو، ژمنو انسانانو او پر هېواد میینو خلکو په وایسطه تر همدې ځایه را رسېدلی یم. زما هر قدم ستاسو له قدم سره اخیستل کېږي، که تاسو تر ما یو قدم هم شاته پاته سئ، یا هم زما مخالفت وکړئ نو زه اړ یم چې دویم قدم پورته هم نه کړم. تاسو له ډیر سخت حالت څخه را وتوونکي یاست، اوس زموږ هڅه داده چې د خپل ملت حکومت د هغه په خدمت کې ستړی کړو، خو ترڅنګ یې د دې حکومت ملت هم باید د خپل حکومت تر څنګ ودرېږي. له موږ سره څنګ پر څنګ کار وکړئ، زموږ ستونزې تر موږ را ورسوئ، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو مسوولیتونو ته متوجه کړئ، کوم چې زموږ څخه هیر شوي وي، ستاسو ټولو اولادونو ته چې هغوی په مسلکي ډول روزل شوي وو؛ اوس پر مسلکي دندو گومارل شوي دي. ستاسو اولادونه چې بې زده کړو پاته شوي دي هغوی ته اوس په صنعتي برخه کې د کار کولو زمینه مساعده شوې ده، ستاسو اولادونه چې له تعلیم څخه بې برخي پاته شوي دي اوس په زده کړو بوخت دي. پر تاسو چې هر چا ظلم کړی اوس د تورو تمبو شاته پراته دي، ستاسو هر واکمن ستاسو له منځ څخه د یو چا زوی، د یو چا ورور د یو چا خپل او یا هم د یو چا د سیمې دی. ستاسو کلتور، ارزښتونه، ملي گټې، ملي ارزښتونه او ټوله جغرافیه اوس له هر ډول تیري، جاسوسي او ناامني څخه په امن کې ده، دا هغه څه دي چې زموږ او ستاسو له گډ کار څخه یې سرچینه اخیستې ده. په خپل منځ کې مو اشرارو ته ځای مه ورکوئ څوک چې هم ستاسو د حکومت پر ضد راپورته کېږي، تشخیص یې کړئ سرچینه به یې حتماً بهرنۍ وي. ستاسو د هر څاڅکي اوبو د خوندي کولو چارې په چټکۍ سره روانې دي؛ د هېواد ټول بندونه به په اساسي ډول ورغول شي، یوازې موږ اړ یو چې د نړیوالو اصولو له مخې د ټاکل شوې اندازې اوبه نورو هېوادونو ته ورکړو چې په بدل کې به یې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پیسې راکوي او د همدې پیسو څخه به د خپل هېواد د زراعت، صنعت او پر مختګ په برخه کې کار واخلو. بې کاري له منځه تللې، هېڅ واکمن د خپل موقف څخه په استفادې پر خپلو خلکو فرعونیت نه شي کولای، د دوی پر دنده د پاته کیدو او شړل کیدو رضایت ستاسو سره دی. په علمي برخه کې د ټول هېواد د اتباعو روزل بې له تبعیض او تعصب څخه پیل شوي دي، تاسو ورسره همکاري وکړئ، هڅه وکړئ خپل اولادونه ښه تربیه کړئ؛ ځکه چې دوی ستاسو د راتلونکي رهبران، واکمنان او مشران دي. علمای کرامو ته مو په حکومت کې ځای ورکړی دی، ځوانان به مو د ولسي جرګې له لارې د خپلو سیمو ستونزې حلوي؛ خو د پخوا څخه په ډېر لوی توپیر.

هو له پخوا ډېر خلاف په دې مانا چې:

ټولو د ولسي جرګې استازي به نور یوه میاشت په پلازمېنه کې تیروي او د کال پاته یولس میاشتې به د خپلو خلکو تر څنګ، په همدې یولسو میاشتو کې به دوی د خپل ولس په منځ کې له ټولو ستونزو څخه ځان خبروي، د ستونزو د له منځه وړلو په موخه به یې جدي هڅه کوي، کومې چارې چې د مرکزي حکومت مسوولیت کېږي، هغه باید پر هغه وخت له مرکزي حکومت سره شریکې کړي؛ څو لویه فاجعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې جوړه نه شي. په ټول کال کې به یوه میاشت د ټول هېواد استازي پلازمینې ته راځي، همدلته به دوی د راتلونکي کال لپاره د خپلو سیمو لپاره ترتیب سوي پلانونه شریکوي چې په هغه کې به د ښاروالي، پرمختیایې پروژو، نویو بستونو، پوهنې او نظامي برخي اړوند خپلې ستونزې او وړاندیزونه شریکوي. له دې وخت پرته دوی یو نه شي کولای چې یا هم د هېواد بلي سیمې ته سفر وکړي بې له کلنیو رخصتیو او نه هم بهر ته د سفر کولو حق لري؛ یا هم یې بې له دې چې زه (ولسمشر) به یې د یو ځانګړي کار په موخه بهر ته لېږم. دوی زما او د خپلو سیمو د خلکو ترمنځ د وصل ارزښت لري، په خپلو سیمو کې له نورو چارواکیو سره د ستونزو د له منځه وړلو او ښه پلان شریکولو مسوولیت لري، دوی د خپلو خلکو پر سر معاش او امتیاز اخلي ځکه باید ټول وخت هلته تیر کړي. په پلازمېنه کې بې له ډلبازیو، بهرني سفرونو، مخالفتونو او د خپل اصلي هدف له هیرولو ماسېوا دوی په تیر کې بل هېڅ نه دي کړي.

د ولسي جرګې د ټولو استازیو معاشات به یوازې د میاشتې یولک افغانۍ وي، او نورې اضافي حسابونه یا پیسې په فساد کې شمېرلې کېږي؛ دوی ته نور د دسترخوان، یاهم تر یوه تن د زیاتو ساتونکي لرلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تر یوه موټر د زیاتو د چلولو اجازه نشته، دوی اړ دي چې د خپلو خلکو په منځ کې له مساوات راوستلو وروسته په امن کې ژوند وکړي. که دوی فساد او یا ظلم وکړي، نو دوی به خود هغه وخت له لسو موټرو او لسو ساتونکو سره ګرځي؛ اوس په ټول هېواد کې حالات عادي دي، هېڅ دښمن نشته او دښمن که پیداکېږي له ظلم څخه پیداکیږي او یا له ملت سره د رامنځ ته شوې فاصلې له کبله به پیدا کېږي.

د ولسي جرګې د ټولو استازیو له زیاتو مصرفیدونکو پیسو څخه به اوس حکومت هغه پیسې په هېواد کې د هغو بې سرپرسته یتیمانو لپاره په مصرف ورسوي چې په راتلونکي کې ور څخه زموږ هېواد رنځ ویني، د دوی ښه روزنه او پالنه به د هېواد یو بل اقلیت هم په اسلامي، وطني او انساني مینه وروزي.

همداسې د قدرمنو وزیرانو اړوند باید ووایم چې نور یې وخت دی چې خپلې په سمه توګه سره ترسره ګړي او خپبلو کارونو ته ژمن واوسئ، مه پرېږدئ چې د نورو په څیر یا هم بې تابیعته سئ او یا هم د زندان د تمبو مېلمانه سئ. تاسو د خپلو خلکو خادمان یاست، بادارن له ځانه مه جوړوئ، خپل هېواد خپله مور وګڼئ او ښه پالنه یې وکړئ، که تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلو دندو څخه ناقانونه ګټه واخلئ تاسو به ډېر پښېمانه سئ. یو ځل بیا یې د ټولو د خبرتیا په موخه یادونه کوم چې په هېڅ ځای، کور، دفتر، ولسي جرګه، وزارت، ښارنوالي او یا یو بل ځای باندې امنیتي موانع نه غواړم. څو چې تاسو انصاف و نه کړئ تاسو ډاډه ژوند نه سئ کولای، دا چې زه ستاسو تر څنګ پرتې موانع لیرې نه کړم تاسو د ظالم او مظلوم په حال نه خبرېږئ. تاسو ښه وکړئ چې ښه درسره وشي، تاسو د خپلو خلکو خدمت وکړئ همدا خلک به ستاسو ساتنه وکړي. هغه وخت بیا نه لویو موټرونو او نه هم ډېرو ساتونکو ته تاسو اړتیا لرئ؛ ځکه ټول ملت به ستاسو ساتونکی وي.

په تالار کې ناسو ټولو یو بل ته په غریبانه انداز سره کتل، ملامت نه وو ولسمشر د دوی اصلي حیثیت ور وښوی، تر دې خبرو وروسته تالار دومره چکچکو پر سر واخیست چې هر څو ولسمشر د مننې، مننې الفاظ و کارول د دوی چکچکې نه کرارېدې، وروسته تر دوو دقیقو تالار ارام شو چې ولسمشر خپلې خبرې بیا پیل کړې:

کومو کسانو چې د خپلو سیمو اړوند یا هم ستونزې یا وړاندیزونه راوړي وو، ما هغه ټول نوټ کړل، ستاسو تر رسیدو وړاندې یا هم وروسته به یې په اړه ډېر ژر اقدام وکړم. ستاسو هره سالمه نیوکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هېواد د حکومت د پایښت لامل کېږي، موږ ستاسو ږغ نه بندوو په هغه صورت کې چې له قانوني لارې څخه په قانوني بڼه ستونزه او پلان دواړه شریک کړئ.

ځینې ستونزې عوام د دښمن په لاس ورکوي، هغوی ورباندې شخوند وهي، هدف یې د حکومت کمزوري کول وي نه اصلاح، له داسې فعالیتونو ډډه وکړئ.

زه نن اعلان کوم چې زموږ د هېواد قانون د الله(ج) سپېڅلی کتاب دی، ټول محاکم دې د الله(ج) حدود عملي کړي، تر قران، حدیث، اجماع او قیاس را وروسته هغه څه چې د وخت د حاکمانو په واک کې ورکړل شوي له ښه غور کولو وروسته دې ترسره کوي. ځکه چې په اسلامي هېواد کې اوسو، مسلمانان زیږېدلې یوو، باید چې د خپل رب(ج)قوانینو ته غاړه کېږدو، د نړیوالو تړونو په مورد به زه هېڅ هغه سازماني یا اتحادي قانون ونه منم چې زموږ له دین یا ارزښتونو سره په ټکر کې وي.

ټولې هغه رخصتۍ چې بې له اړتیا یې په هېواد کې ټول سیستم یوه ورځ په ټپه درولی وي، د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته مې امر کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له منځه يې يوسي، نه غواړم چې ملت مې يوه ورځ هم له نورې نړۍ څخه شاته پاته شي. زموږ د سياست توازون اوس تر پخوا ډېر پر خپلو ګټو را څرخي، موږ د نړۍ له ټولو هېوادونو سره سالمې اړيکې لرو، نړېوال زموږ سره په ډېرو برخو کې بې له کومې فکري او معنوي ګټې څخه مرستې کوي.

اوس مهال تاسو خپلو سيمو ته ولاړ سئ، زما پيغام درسره ورسوئ او د خپلې ښې راتلونکې په موخه له يو بل سره ګډ کار وکړئ. يو بل ورغمئ، تعصبات له منځه يوسئ او ټول تر يوه واحده رهبري لاندې ژوند وکړئ.

ډېره زياته مننه. ژوندی دې وي د هېواد باتمدنه ملت.

په تالار کې ټولو ډېرې چکچکې وکړې چې اخير کې موږ ترې را ووتو د ماپښين درې بجې وې چې ارګ ته دننه شوو، له ستړيا څخه د خلاصون په موخه مو يوه يوه پياله چای و څښلې او لږ وخت مو ارام وکړ. ارام به نو له کومه وو، د ولسمشر تازه پرېکړو هېوادوال ډېر خوشحاله کړي وو. دوی کلونه کلونه له همدې خلکو څخه سرټکوی، نن هغه فرعونيان ولسمشر بيرته له خپلو خلکو سره يو ډول کړل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی منځ ته یې ور ولیږل. نور به یوازې د دوی ښې کړنې د دوی ساتنه کوي.

څلور بجې وې چې ولسمشر سره د کړې وعدې د ترسره کولو په موخه د هغه اطاق ته ورغلم؛ ولسمشر کالي اغوستي و، ځان یې ښه سره سیټ کړی و، پرېکړه مو وکړه چې دباندې ووځو. موږ دواړه په یو موټر کې کېناستلو تر شا مو یو بل د ساتونکو موټر راپسې روان کړ. د ولسمشر د معشوقې کور ته ورسیدو هغه مو موټر ته را وخېژوله، په همدې وخت کې ولسمشر ماته وویل چې ما له خپلې معشوقې سره پخوا لا نکاح تړلې، زما خوښې په همدې کې وه چې د مینې ژوند وکړو، کله چې مېرمنه خپل د خاوند کور ته راسي، خاوند یې ورسره عادي کېږي. بیا هغه ډول ژوند خوند نه لري څنګه چې تر واده وړاندې په سفر او یو لنډ مجلس کې وي. دویم زه ویریدم چې زما دویمه مېرمن زما کمزوري و نه ګڼل شي، ځکه مې هر څه پټ ساتلي وو. دا چې اوس زما د هېواد اولني کارونه په ښه شکل سرته ورسیدل؛ بې له ډېرو مصرفونو او مراسیمو به موږ تر دې ګډ سفر وروسته خپل کور ته ولاړ شو. په هغو پیسو چې موږ یې د واده د مصرف لپاره لګوو پر هغو باندې به د هېواد یتیمانو ته په هر ولایت کې د هغه ولایت په مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مېلمستیا جوړوم، څو هغوی ټول د خپل هېواد د مالکیت احساس وکړي. له خپلو حکومتي چارواکو سره له نږدې اوسیدو سره بلد شي او په راتلونکي کې ترې هېڅ و نه ویرېږي. سفر مو همداسې ادامه لرله د کابل په ښار کې گرځیدو، ولسمشر او مېرمنې(مینې) یې په خپلو کې سره خبرې کولې؛ د ښاریانو له ښاریتوب او موډرنتوبه رغیدو. د هېواد پر وروستیو پرمختگونو یې خبرې کولې، وروسته یې خپلمنځي خبرې بس کړې. د ښار ښکلا یې خبرو ته خاتمه ورکړه، ښار تر پخوا ډېر ښایسته شوی وو؛ لوړې ودانۍ، ښاري نزاکتونه، پراخ سړکونه، د سړکونو پر سر هېڅ یوې خور او سر چوک کاریگر نه ښکارېدی، پر هر سړک چې به مو ور مخه شوه هېڅ امنیتي موانع یا لار بندي نه لیدل کیده. د کابل په غرونو کې د دنگو دنگو ودانیو، رنگیدلو کورونو جلا مزه کوله، د ښاروالي له لوري په نړیوال سیستم برابر د ترافیکي قوانینو په موخه عصري لارښوونې، ترافیکي اشارې، د ښاري بسونو تگ راتگ، منظمې د مسافرو ټکسیانې. تا به ویل چې په کوم بل هېواد کې گرځم. د ښار ټولې کارخانې یې له ښاره ایستلې وې، څو د ښار په پاکه هوا کې بدلون رامنځ ته شي. په ټول ښار کې د میلې لپاره ښکلي په نړیوال معیار برابر پارکونه، د سړوکونو پر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوايي پلونه، هغو ځايو ته چې اړتيا به يې تر سترګو کيده، زموږ سفر ډېر ګړندی وو تا به ويل چې دا مو وروستی ځل دی بيا نه را ووځو. نه پوهېږم ولې خو په يوه خبره پوه شوه چې د هر څه بدلون موږ ډېر هڅولو، څو ډېرې سيمې ووينو او خوند ترې واخلو. جمعه وه، ميلې ته ډېر خلک راوتلي وو، د ولسمشر مېرمنې ولسمشر ته وويل زه غواړم چې تاسو يو بل فرمان هم صادر کړئ، ورسره سم يې نرمه موسکا وکړه.

ولسمشر يې په سترګو کې سترګې خښې کړې، ورو يې وويل: ووايه ستا لپاره خو يو فرمان ډېر لږ دی!

مېنې يې زياته کړه؛ د خپل هېواد ټولو خلکو ته د هرې جمعې په ورځ په ټولو تفريحي پارکونو کې مېله وړيا کړئ، دا ملت له کلونو ستړيا وروسته اوس ټوله اوونۍ د خپل هېواد او ځان لپاره کار کوي؛ ښه به وي چې حکومت يې په اوونۍ کې ورته يوه ورځ د مننې يا ستاينې په موخه مصارف پر ځان ومني.

ولسمشر ته يې پلان خوند ورکړ، ژر يې د نوټ په کتابچه کې وليکل او د عملي کيدو ژمنه يې وکړه. په همدې وخت کې ولسمشر دا ځل له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل جیب څخه هغه لوی غټ سګرېټ (سیګار) را وکېښ، تر لیتړ سره لمبه پورته سوه. د موټر تر تورو ښیښو دود ووت.

هر څومره چې و ګرځېدو هېڅ بې نظمي، ټولنیزي نابرابرۍ او یا نښه‌یان مو ونه لیدل، یو بل ښه‌والی دا هم وو چې د هېواد د هرې سیمې خلک د خپلو پېژندپاڼو پر وخت بایومیټریک شوي وو. تر ډېره دوی د جرمو یا ناقانوني کړنو ترسره کولو ته زړه نه ښه کاوه.

د قرغې بند ته ولاړو، د هېوادوالو خوښي او د دې بند ښکلا د افغانستان ښکلا زیاته کړې وه، بیرته ښار ته راوګرځېدو. موبایل ته مې زنګ راغی چې اوکې مې کړ، د کډوالو د چارو مسوول ځوان وو، و مې پېژندی، وروباندې غږ مې کړل ، ماول خیر؟

هغه ویل زه پوره ډاډ درکوم چې د ډیورنډ کرښه د هغې غاړې افغانانو له منځه وړې، اوس یې له باډر، ځنځیر او تورخم څخه معلومات راته رسیدلې دي، زه به تاسو ته پر وخت تازه معلومات درکړم؛ ټلیفون یې کاټ کړ. د بدن وریښتان مې داسې جګ ودریدل، دا هغه حالت وو چې موږ پر اسمان غوښتی خدای(ج) پر ځمکه را کړ. ولسمشر پوښتنه وکړه؛ خیرت و، چا زنګ وهلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان مې ورته وکړ. د ولسمشر میني ژر خپل موبایل را وکېښ، که گوري هر څه رښتیا دي. د ډیورنډکرښې پر سیمه خړې دوړې ښکارېږي، د ځینو سیمو انځورونه ښه سم ښکارېدل. د هغه بلې غاړې خلکو دا کرغېړنه کرښه نه غوښته، موږ ټول هک پک شو، له خوښۍ څخه هېڅ نه پوهېدو چې اوس څه وکړو.

ولسمشر وزیر دفاع ته زنگ ووهی چې عاجل د ډیورنډ اړوند سیمو ته د هوا له لارې ځانگړي ځواکونه ورسوئ او هلته هر چاره په خپله تعقیب او کنټرول کړئ؛ ما له هر څه خبر وساتئ، د هغو افغانانو ساتنه وکړئ او په موضوع ځان خبر کړئ، ټلیفون یې کاټ کړ.

احمد خان را ته بیا ځلې زنگ ووهی او ویې ویل: زما د معلوماتو پر اساس چې سل سلنه دقیق دي، د هغې غاړې ټول افغانان غواړي چې د ډیورنډ کرښه له منځه یوسي، زموږ تر واک وتلې خاوره زموږ سره پیوند کړي او لوی افغانستان یو ځل بیا پر پښو ودروي. تر خبرو وروسته مو ټلیفون کاټ کړ، موږ هم د دارالمان سړک ته را رسیدلي وو، د خوښۍ ترڅنگ موږ باید د عامه نظم ساتنه هم کړې وای.

ولسمشر ته مې په دې اړه وویل چې هلته د نظم ځانگړي ساتونکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږلو امر ورکړئ، څو په دې اړ و دوړ کې د ټولو خلکو د سر او مال ساتنه وشي. ولسمشر هم ومنله یو پېغام یې چاته ولېږی.

ولسمشر زما څخه نظر وغوښتی او پوښتنه یې وکړه چې څه فکر کوې!؟

ما ورته وویل زه ډېر ښه فکر کوم، دا زموږ د نیکونو او تاریخ یوه لویه هیله وه، دا چې له کلونو راهیسې موږ د خپل نس د ډکولو لپاره ډوډۍ نه لرله، ټولنیز نظم نه و، زورواکي حاکمه وه، لوږه تر هرڅه زیاته وه، قانون تر پښو لاندې کیدی، کاري زمینه هېڅ نه وه، د مسلک خاوندان چا نه پېژندل، زراعت ختم و، صنعت ته چا زړه نه ښه کاوه، حکومت د ځان او ملت د ځان غم خوړی؛ نو په داسې حالت کې چې موږ په خپله په نس نه و ماړه، موږ به د لوی افغانستان ناري وهلې د هغې غاړې خلکو به راپورې خندل چې هر ډول و، د دوی ژوند تر موږ ښه و.

دا چې نن زموږ د هېواد قانون پر پښو ودریدی، ټولنیز نظم رامنځته شو، د تاریاکو او چرسو کښت په زراعت وا وښتی، د غنمو صادرات مو هند او پاکستان ته کېږي، زراعت بشپړ پرمختګ وکړ، د نشه‌یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکو کښت بند شو او کاروباریان یې په سزا ورسیدل، هېواد مو د ښه امنیت له امله د اسیا په څلور لارې بدل شو؛ چین، پاکستان، تاجکستان، هند، ایران، ازبکستان، ترکمنستان او اروپایي هېوادونه اوس د خپلې ښې راتلونکې په موخه موږ ته اړتیا لري. له ټولو اروپایي، افریقایي، امریکایي او اسیایي هېوادونو سره ښې اړیکې، سالم او با توازونه سیاست لرو. غلا، غله، فساد، مفسدین، ناامني او جاسوسي له منځه ولاړل. د هېواد ټولې اوبه را وتړل شوې، اوس موږ ترې په قانوني توګه پیسې هم تر لاسه کوو او د خپل هېواد برېښنا مو هم تولید کړې چې ورسره صنعت پرمختګ کړی، له صنعت څخه مو هېوادوالو ښځینه او نارینه وو ته د کار زمینه مساعده شوې ده. د لوړو زده کړو په برخه کې د نړۍ له مشهورو پوهنتونونو سره، د زده کړیالانو په روزلو کې هوکړه لیکونه لرو، زده‌کړه د ټولو اساسي حق وه او په دې برخه کې ټولو ته د زده کړو چاپېریال او امکانات برابر شوي و. د ښوونکو او نظامیانو لوړو معاشاتو د قانون په تطبیق او د جرمونو په کمښت کې د پام وړ بدلون راوستلی و. د ښوونځیو تر څنګ د مدرسو رغېدا لوی بدلون و چې ورسره د ټولو دیني فریضه هم ادا شوې وه. د خویندو لپاره بېل ښوونځي او ځانګړی ښوونیز نظام پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښو ودریدی، هغو ښځو ته چې د لیک لوست وړتیا یې نه لرله په شرکتونو کې ورته کاري چاپیریال برابر شو، ټولو یتیمانو ته میاشتنی معاش ورکېدی. خان، وزیر او بزگر په یو ډول د هېواد له اساسي حقوقو څخه استفاده کولای شوای. د هېواد اقتصادي حالت پر پښو ودریدی چې ورسره سم نړیوال سیاست خپلواکه شو. لویې لارې او فرعي سړکونه په اساسي ډول جوړ او ورغول شوو. د هېواد د هر ولایت ښکلا او ښاري پرمختگونه د خلکو زړونه وړي دي، د ټول هېواد برېښنا اوس بې له کومې ستونزې په عمومي ډول د هر وگړي تر کوره رسیدلې ده. د هېواد هره برخه ځلېږي، د مالیې وزارت د راپور پر اساس د هېواد کلنی عاید اوس تر پخوا زیات دی. نظامي برخه د مسلکي روزنې وروسته پر پښو درېدلې ده، موږ په سیمه‌یزه کچه تر ټولو ښه پوځ لرو، د هېواد له ټولو طبیعي زیرمو ښه ساتنه کېږي. د اړتیا پر اساس یې استخراج کېږی. د هر ډول قاچاق مخه نیول شوې ده. په نورو هېوادونو کې اوس د هر افغان عزت او حیثیت د امریکایي هېواد له اتباعو سره یو ډول دی، هلته زموږ د هېوادوالو سره اوس هېڅ ډول ظلم نه کېږي؛ نو گران ولسمشره تر دې نو بل کوم کار ته اړتیا ده چې باید وي او یا ورباندې انسان فکر وکړي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر زما تر دې خبرو وروسته د لومړي ځل لپاره وويل: اوس ډاډه شوم چې ما ستا په ټاکنه کې هېڅ تېروتنه نه ده کړې.

چې حقیقت شي دې حالت د انسان په سترګو کې حتماً د اوښکو چینې پر بهیدو را وستې، ملامت نه و، سفر مو یوڅه تیز کړ، په ډېر لږ وخت کې تر ارګه پورې را ورسیدو. ټول هغه د کاري ټیم ځوانان مې خپل څنګ ته را و غوښتل؛ زه، ولسمشر، د ولسمشر مینه او هغه لس کسه‌یزه کاري ډله په یو ځانګړي اطاق کې دننه کېناستلو. هر یوه هڅه کوله چې خپل کار مخته یوسي، زموږ ټول تمرکز د ډیورنډ اړوند دې لویې تاریخي پیښې ته و.

د معلوماتو پر اساس ټول ازغن سیم له منځ وړل شوی و، هلته تللو ټولو مسوولینو د سیمې حالت کنټرول کړی وو، هېڅ کومه بده پېښه نه وه شوې. د هغې غاړې ټولو افغانانو غوښتنه وکړه چې ولسمشر دې همدلته راشي موږ وینو او ورسره خبرې کوو.

د هېواد ټولې رسنۍ او خلک اوس پر همدې موضوع د خوښۍ خوشحالۍ خبرې کولې، هغوی ولسمشر ته د ورتګ په اړه خپل غوښتنې کولې، له نېکه مرغه ولسمشر زه خپل څنګ ته ور وغوښتم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدم چې حرکت کوو. همداسې و، زه ولسمشر او د ده مینه یوځای په هوايي پرواز کې ولاړو. د خوست په ښایسته ولایت کې چې د ډیورنډ کرښې نیمايي کیده، د لیدنې ځای ټاکل شوی وو. هلته ورسیدو، امنیت خوندي و، نظم بالکل برابر و. د هغې غاړې ټولو پښتنو له خپل منځه یو استازی ټاکلی و چې د خبرو لپاره ولاړ شو، موږ همداسې د ټولو مخ ته ولاړ وو، استازي ډېرې لنډې خبرې وکړې، یوازې دومره یې وویل چې اوس موږ هېڅ جلاوالی نه منو، موږ بل هېڅ قانون نه منو، موږ به ټول خپلې تذکرې"شناخته کاردونه" وسوځو او تاسو راته خپل پېژندپاڼې راکړئ. موږ د لوی افغانستان هیله نن ور پوره کوو، دوی مخکې تیاری نیولی و؛ شنه لوخړه پورته شوه ټولو خپلې تذکرې وسوځولې.

ولسمشر ټولو ته د ژر تابیعت ورکولو او پېژندپاڼو د وېشلو امر وکړ. د ټولنیز نظم په موخه، د عامه نظم ساتلو، او په وروسته کې د ښوونځیو، لوړو زده کړو، حکومت کې د ګډون، د قانون حاکمیت او ښاري پرمختګ په موخه ژمنه وکړه. د ولسمشر معشوقې د هغې غاړې ټولو افغان میندو او خویندو ته د کار، زده کړې او ښه ژوند کولو وعده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، د دوی لپاره د ټولو اړتیاوو پوره کولو په موخه مسوولو چارواکو ته ځانګړې لارښوونې وشوې.

همدلته ټولو را ټولو شویو پر یو ځای په لوړ اواز سره وویل: د ملت بابا دې ژوندی وي چې ورسره د ټولو هېوادوالو پر شونډو همدا کلمې ویلې کیدې؛ د ملت بابا دې ژوندی وي!

په درنښت!

خپل کور، کندهار

1401/7/18

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library